# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۸۸ ګڼه / پنجشنبه ۱۱ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۳ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۲ فبروری ۲۰۲٤ ميلادي


## غزني کې ۴ صنعتي پارکونه جوړېږي

د غزني د صنعت او سوداګرۍ رياست د دغه ولايت په مرکز کې له ښار څخه لرې د ۴ صنعتي پارکونو د جوړولو لپاره ځايونه په ډاګه کړي دي.د دغه ولايت والي حافظ محمد امين جان په وينا ياد صنعتي پارکونه د غزني د مرکز اړوند په سفنده، پيرکه، او تلخک دښت سيمو په سلګونه جريبه ځمکه کې جوړېږي. په ورته وخت کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د پارکونو عمومي رئيس قاری عبدالمجيد قيام دغه صنعتي پارکونه د هېواد سوداګرو او پانګوالو ته ښه زېرى وباله او ويې ويل چې ورسره به د سيمې زرګونو تنو ته د کار زمينه هم برابره شي.هغه زياته کړه، چې د دغو صنعتي پارکونو د ځمکو وېش به د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري ترتيب او د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله له منظورۍ وروسته به يې چارې عملي پيل شي.

## نشست کمیسیون سیاسی امارت اسلامی افغانستان برگزار شد



نشست کمیسیون سیاسی امارت اسلامی تحت ریاست مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا برگزار شد.ارگ دیروز در خبرنامه‌یی نوشته است: این نشست شام روز گذشته برگزار و طی آن در خصوص وضعیت افغانستان و منطقه، نشست دوحه و سایر موضوعات شامل اجندا بحث شد.در نشست یادشده، در مورد طرح اداره ملی حفاظت محیط زیست در رابطه به نهال شانی در بهار سال آینده در کشور نیز بحث شده است. بر اساس فیصله کابینه امارت اسلامی افغانستان، اداره‌ی ملی حفاظت محیط زیست ص۷

## غزه کې د جګړې ۱۳۸ مې ورځې مهمې پېښې



– د غزې په بېلابېلو سيمو کې د اسرائيلي ځواکونو هوايي بريدونه او د دغو اشغالګرو ځواکونو او فلسطيني جهادي ډلو ترمنځ نښتې روانې دي.

– اسرائيلي ځواکونو د غزې په خان يونس سيمه کې د بې پولې ډاکټرانو د کارکوونکو د اوسېدو پر مرکز بمبارد کړی، پېښه کې دوه تنه وژل شوي دي.د بې پولې ډاکټرانو سازمان د پېښې د پخلي ترڅنګ دغه برید غندلی دی. ۷مخ

## د بغلان غوري سيمنټو فابريکې د عوايدو زياتوالى

د بغلان غوري سيمنټو فابريکې چې د افغانستان د اړتيا وړ شپږ سلنه او د بغلان، کندز او تخار ولايتونو د اړتيا وړ ۷۰ سلنه سيمنټ توليدوي، د روان کال د نهو مياشتو عوايد يې د تېر کال د عوايدو په پرتله ۳۰ سلنه زياتوالى ښيي.د بغلان د غوري سيمنټو فابريکې مالي او اداري مرستيال عبدالوکيل قيومي وايي، چې تېر کال د غوري سيمنټو فابريکو عوايد ۵۴۰ میلیونه افغانۍ وو خو د روان ۱۴۰۲ کال په لومړيو نهو مياشتو کې د دې فابريکو عوايد ۷۰۰ میلیونه افغانيو ته رسېدلي، چې دا د تېر کال په پرتله ۳۰ سلنه زياتوالى ښيي.



### د اطلاعاتو او کلتور وزير: د شخصي اغراضو لپاره دې د ژبې په نوم افغانان نه کارول کېږي

د مورنۍ ژبې نړيوالې ورځې په مناسبت

**شريعت:** «دا د وياړ ځای دی، چې دلته د ټولو ژبو ويونکو په خپلو ژبو خبرې کولو ته ترجيح ورکول کېږي» ژبو ځرګندوني وکړي. دا د افغانانو زړونو ته خوښي او داد ورکوي چې دلته يووالی حاکم دی». دا خبرې د اطلاعاتو او فرهنګ وزير مولوي خير الله خيرخواه د مورنۍ ژبو د نړيوالې ورځې په تړاو جوړې شوې غونډې ته وکړې. د فبروری ۲۱مه د ملګرو ملتونو اداري يونېسکو په غوښتنه د مورنۍ ژبې نړيوالې ورځې په توګه په رسميت پېژندل شوي او هر کال په دې موخه چې حکومتونه، کورنۍ او اداري د مورنۍ ژبې ارزښت ته وهڅوي نمانځل کېږي. افغانستان، چې اوسېدونکي يې په ګڼو قومونو وېشل شوي او په بېلابېلو ژبو خبرې کوي، د فبروری ۲۱مه د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ يوې غونډې په ۷مخ

### سرپرست وزارت امورمهاجرين: به مشکلات مهاجرين ولايت غزنی رسيدگی صورت ميگيرد

سرپرست وزارت امور مهاجرين و عودت کنندگان در ديدار با والی غزنی روی کاهش مشکلات عودت کنندگان بحث کرد و متعهد بر رساندن کمک ها و ارائه خدمات به افراد مستحق طورمعياری و شفاف شد .دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرين و عودت کنندگان ديروز با نشر اين خبر گفته است : الحاج خليل الرحمن حقانی، سرپرست آن وزارت با مولوی محمد امين جان عمری، والی غزنی در مقر وزارت امور مهاجرين و عودت کنندگان ديدار کرد و در رابطه ۷مخ

### د اوبو او انرژۍ وزارت مرستيال د جرمني دوو شرکتونو له مسوولينو سره وکتل

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معين مجيب الرحمن عمر آخندزاده د خپل کار په دفتر کې د آلمان هېواد د راک ګرين «Rock Green» او الفاتيک «Alfa Tec» شرکتونو له مسوول سره وکتل او د اوبو او انرژي په پروژو کې د همکاري په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.په دغه ليدنه کې، د نومړو ۷مخ

### ارزګان کې په ۲۴کيلومتره سړک د جغل‌اچونې چارې پيل شوې

دارزګان د والي وياند حسان‌الله حماس سلام‌وطندار ته وويل چې د چهارچينو ولسوالي د چيتو پله څخه تر خاورو خوردې پورې د ۲۴ کيلومتره سړک د جغل‌اچوونې چارې يې پيل کړې دي.د نومړي ۷مخ




رفح در آستانه یک نسل کشی فاجعه بار صهونیست ها ص۲

د افغانانو رښتيني استازي څوک دي؟ ۳مخ

افغان اعلانات ۶مخ


## سرمقاله

### زموږ د ملي مبارزاتو يوه بله تاريخي ورځ !

نن د ۱۴۰۲ هجري شمسي کال د حوت مياشتي دريمه د کابل عمومي قيام پوره څلورڅلويښتمه کليزه ده. موږ د( ۱۳۵۸هجري شمسي) کال د حوت مياشتي دريمې نېټې هغې جمعي ورځې يادونه کوو چې د کابل ښارېتول اوسېدونکي ځوانان،زاړه ، ښځه ، نراو دهر قوم اوقبيلي ټول وګړي دتکبيرله زړه لړزونکو نارو سره راووتل، دشوروي يرغلګرو اوهغوی دګورنيو لاس پوڅو پرخلاف يې شعارونه ورکول اوځای ځای يې دهغوی پرټانګو او چونۍ ګانو يرغل هم پيل کړ. دتش لاسو ښاريانو په دغه پاڅون کې به خامخا يوشمېر بهرني اوکورني بې دينان هم وژل شوي اولس ګونه مبارزين په شهادت رسېدلي وي، خوورسره يې دوه ډېرمهم حقيقتونه هم ګردې نړۍ ته دلمر په شان روښانه کړل. لومړی خوېې خپله ځينو پرديپالو افغانانو ته ښه په واضحه توګه وروښودله چې افغان مسلمان ولس په غوڅ ډول اوپه هيڅ صورت خپل هېواد کې نه دپرديو نظامي اشغال منلی شي اونه پردي افکار اوعقايد.دافغانستان پلازمينه کابل کې په ياده ښه عمومي پاڅون بې له شکه دټولې نړۍ خصوصاً کمونيست بلاک او وارسا تړون لپاره دټول افغان ملت له خوا يو قاطع اوواضح پيغام وچې ددې ميړنۍ خاورې ټول مسلمان اوسېدونکي ددوی د يرغل، اشغال اوفرمايشاتو کلک مخالف دي اوکه دوی لاهم خپل ضد اولجاجت ته دوام ورکوي نو پرته له خوارۍ ، ذلت اوناکامۍ بل څه نه شي ترلاسه کولای، لکه چې اخرپای شورويان له همداسې برخليک سره مخ اودليست له سره پای ته هم راوغورځېدل. ۷مخ

### ننګرهار کې ۲۲ جريبه ځمکه د کوکنارو له کښته پاکه شوه

د ننګرهار ولايت امنيه قوماندانې د نشه يي توکو پر ضد مبارزې مديريت منسوبينو له لوري په بېلابېلو ولسواليو کې ۲۲ جريبه او ۴ بيسوې ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه کړه.د يادې قوماندانۍ وياند حافظ عبدالبصير زابلی وايي، ۱۱ جريبه او دوه بيسوې په سپين غر، اووه جريبه په شېرزادو، يو جريب په چپرهار، يو جريب او ۱۲ بيسوې په اچين يو جريب او درې بيسوې په نازيان او ۷ بيسوې په پچير اګام ولسوالۍ کې د کوکنارو له کښت څخه پاکه شوه.

### سرپرست اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی: زمينه فراگيری آموزش برای مجاهدين فراهم ميشود

مولوی غلام حيدر شهامت سرپرست اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی، به هدف گسترش فعاليت آن اداره به فراه رفته است او در نشست با مولوی غوث الدين رهبر والی فراه، در رابطه به رسيدگی به نيازمندی های مراکز تعليمات تخنيکی و مسلکی در آن ولايت صحبت کرد. سرپرست اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی، در رابطه به طرح آموزش مجاهدين صحبت کرد و گفت که بر اساس اين طرح، زمينه فراگيری آموزش برای ۷مخ

### کار سه پروژه عمرانی در ناحيه سيزدهم شهرکابل تکميل شد

شاروالی کابل، کار سه پروژۀ عمرانی را در مربوطات ناحيه سيزدهم شهر کابل تکميل کرد. مولوی عبدالصمد عابد رييس ناحيۀ سيزدهم می گويد: اين سه پروژه، شامل ساخت و کانکريت ريزی کوچه های اين ناحيه است که در مجموع به طول ۲ هزار و ۵۹۲ متر وبا هزينه بيش از ۲۵ ميليون ساخته شده است.

### د خوړو د نړيوال سازمان دسرچينو رييس: په نړيوالو غونډو کې د افغانستان لپاره د مرستو لړۍ روانه ساتو

دکندهار دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رييس الحاج مولوی فضل الباري فضلي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دخوړو او کرنې اداري د سرچينو رييس اليکس، د رييس سلاکار، په افغانستان ۷مخ

### د ښه ژوند په نيت تللي افغانان بهرنيو هېوادو کې څرنګه وضعيت لري؟

**شريعت:** نږدې درې مياشتې کېږي چې افغانستان ته د افغان مهاجرينو راتګ زيات شوى دى چې ډېرى يې بيا د ګاونډيو هېوادونو پاکستان او ايران څخه افغانستان ته راغلي او يا را اېستل شوي دي. دې کې داسې هم شوي دي چې د ډېرو مهاجرينو نه د کور ارين توکي هم پاتې شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ ټول وګړي نورو هېوادونو ته د مهاجرينو اصولو سره سم د مهاجرت حق لري، په دې لړ کې بيا د مهاجرت راز راز ډولونه لري چې ۷مخ

# جهادي خاطرې

## زما بابا چېرې دی؟ زما بابا کله راځي؟!

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

**۲۸/۷/۱۳۹۹ لمریزکال**

همدا دتېر پرون مازدیګر کېـــــه ده ...! دجمعې په شـــپه دفراه - فراه رود ولســوالۍ کې دامریکایي دړون په ګوزارونو کې څو تنه مجاهدین د شــهادت لوړ مقام ته فائز شول. مازدیګر له څو تنو ملګرو ســره دیوه شـــهید کور ته دتعزیت په پلمه روان شوو، کله چې له موټر نه راکښــته شـــولو مخامخ یو زلمی ولاړ دی یوه ماشومه انجلۍ یې په غېږ کې ده چې عمر به یې شــاوخوا درې کاله و. دماشومې ســترګې چې په موږ ولګېدلې چېغه یې کړه زمـــا بابا کوم دی؟! زما بابا کله راځي؟! ځوان ورته وایي ســتا بابا کورکې دی.... بیا هم ماشـــومه جېغې وهي زمـــا بابا کله راځي؟ موږ چې نږدې شـــو زلموټي مخ واړاوه په غالب ګومان چې د ماشـــومې خبرو ســخت اغیز پرې کړی وي اوله سترګو یې اوښکې راغلي وي. هوکې! داپېښــې زموږ د ورځنې ژوند یـــوه برخه ګرځیدلې په هرکلي او کوڅه کې همدا حالت دی. کلـــه چې دفاتحې له ځایه را پاځېدو بیاهم هماغه ماشـــومه دهغه زلموټـــي په غېږکې وه اودباندې ولاړ وو. ددې دفکر اړولو لپاره یې په خبرو مصروفه کړې وه. باور وکړئ دې حالت ســخت وردردولم چې کله بېګا کورته راغلم، زما یوه ماشـــومه لـــور (ناهده) ده چې هرکله زه کورته راشـــم نو دامخې ته راځغلـــې. بیا مې هم هغه وړه ماشـــومه راپه زړه سوه . کېدای شي داانځور مې تر ډېره په ذهن کې همداسې ځوروونکی پاتې وي.

+++++

**په لومړي ځل د طالبانو سره مخامخ کېږم!**

۲۵/۹/۱۳۹۷ لمریزکال تازه د افغانســـان اســـلامي مارت داقتصادي کمېسیون له لوري دهرات کندهار پرلویه لاره دفراه رود ســیمه کې د ابوبکر صدیق کمرګ ایجاد شـــوی و، زه یې دمســؤل په توګه ټاکل شوی وم. شـــاید دابه لومړی ځل وه چې په دومره لویه پیمانه دې زموږ دسوداګرو او تجارانو ورونو راشه درشـــه داسلامي امارت دمجاهدینو سره پیدا شـــوې وي. یوه ورځ دوه تنه ســـوداګر راغله چې لومړی پرعمومـــي ډامبر زموږ د ګمرک دمجاهدینو ســـره مخامخ شـــوي وهغوی ښه وضعه ورســـره کړې وه. کله چې مومجلس شـــروع کړ یو ســـوداګر وویل: مولـــوی صاحبه ! دا طالبان خو ســـم خلـــک دي. ماورنه وپوښـــتل هغه څنګه؟ ســـوداګر زیاته کړه ما تردې وړاندې طالبان نه و لیدلي او درســـنیو اوچارواکو نه مو د دوی په خلاف ســـخت زهرجن تبلیغات اوریدلي و. به ذهنونوکې کې مو دطالبانو انځور منفي رســـم شوی و خو اوس چې دلته راغلو ومولیدل چې طالبان ډېر ســـم خلک دي. ددې وطن اوسیدونکي دي او زموږ ســـره یې خورا مؤدبانه برخورد وکړ. بیا موږ هم داســـلامي امارت دتګلارو او موخو په هکله معلومات ورکړل او کومه ستونزه چې یې لرله د دوی دخوښـــې موافق مو ورته حل کړه.

همدا شـــان مو یو موټر ددوی دمحصول اخیستلو نه معاف کړ چې دا یې ستاسو مېلمستیا ځکه حالات ترینګلي دي اوفعلاً داســـې زمینه موږ ته نه ده مســـاعده چې ستاســـو اکرام وکړو.

زمـــوږ کرو وړو ته ډېر ځېراو په تعجب کې وه اوپه دې ژمنه یې رخصت واخیســـت چې موږ به هرومرو دطالبانو حقیقي انځور ښـــاریانو او سوداګرو ته وړاندې کوو.

## دوحې غونډه او د اسلامي امارت دریځ

**عثمان**

دملګرو ملتونو له لوري په دوحه کې دافغانســـتان په تړاو غونډه کې داسلامي امارت پرغوښـــتنو ځان ناکاره کول دا په ډاګه کوي چې لااوس هم نړیوال دافغانســـتان په اړه مخلص نه دي اوغواړي په اسلامي امارت د فشارونو لړۍ ته دوام ورکړي اویوځل بیا خپلو دغومذبوحانه هلو ځلو ته دوام ورکړي چې ددوحې په دغه ناسته کې زموږ دګران اومحبوب هېواد هغه قســـم خوړلو، مفســـدو او ملت رټلو اشخاصوته ځای اوچانس ورکړي چـــې ملت یې نور د زغملو حوصله نه لري دملګرو ملتونو ســـازمان عمومي منشـــي ګوتریش په دغه ډول فرمایشي غونډو جوړولو اوپه هغه کې داسلامي امارت پلاوي ته دګډون بلنه داپه ګوته کوي چې لاهم دوی په افغانستان کې کولای شي خپل فرمایشـــات په حاکم نظام ومني او ددوی دغه سرتمبه ګي ښایي هېڅ پایله ونه لري. اسلامي امارت هېڅکله په دغه شـــان غونډوکې چې پایله ونه لري ګډون ته لیوال نه دی او دوخت ضایع کول یې بولي اوپه دغســـې ناستوکې هغه عناصرو ته برخه ورکول چې ملت ازمایلي اورټل شوي بیا چانس ورکول داستقلالیت په لمن تور داغ ګڼي اوپه دغه شان غونډوکې له ګډون څخه ډه ډه کوي.

دې ته ورته نورې غونډې اوناستې په بېلابېلو هېوادونوکې ترسره شوي چې هېڅ نتیجه یې نه درلوده. په هغه ناستوکې چې اسلامی امارت په کې ټاکونکی رول ونه لري ګټوره پایله نه لري. اســـلامي امارت چې دافغان مؤمن اومیړني ملت له ملاتړ څخه برخمن دی دمیلیونوتړ افغان مجاهدینو په قربانیو رامنځ ته شوی. دافغان مؤمن اوغیرتي ملت، هېچاته ددې حق نه ورکوي چې یو وار بیا بهرنیانو ته دلاس وهنې اومداخلې دروازې پرانیزي اواشـــغالګرو ځواکونو ته دنیابتي اواســـتخباراتي جنګونو لپاره زمینه برابر او زموږ کلتوري ارزښتونه اوملي ګټې زیانمنی شي نړیوال باید په خپلو سیاستونو له سره غوروکړي اوهغه لارې چارې ولټوي چې ګټوری لاسته راوړنې ولري.

## اسلامي امارت او مسؤلیت یې

**امین وردګ**

زه داسې انګېرم چې افغانستان ته دپخواني شوروي دپوځونو راکشول هم دغربیانو نقشه وه، ترڅو یې دافغانانو په لاسونو ســـم وځپي او په دغې توګه د ویتنـــام وار ترې واخلي او د تل لپـــاره یې اقتدار ورختم کړي ، ځکه خو چې کله د (ثور انقلاب ۱۳۵۷/۲/۷ ) په نـــوم ظالم او بې رحمه غورځنګ بریالی شو او سردار محمد داود خان یې له ټولې کورنۍ سره په وحشیانو توګه له منځه یووړ ، نو سملاسي غربیان لاس په کار شـــول او په نوي جوړ شوي پاکستان کې یې افغانانو ته کمپونه ورغول ترڅو یې هملتـــه په نظامي توګه وروزي او کلک یې مجهز کـــړي ، دا لړۍ کلونه کلونه روانه وه ؛ د عربو سپین بانکي چېکونه او د امریکا له پرېمانه وسلو ډک موټر به شـــپه او ورځ پاکستان ته را روان وو، خو پاکستان به لومړی خپل ځان مجهز کړ بیا به یې هغه پاتېشوني افغانانو ته ورکول.په هر حال... جګړه روانه او افغانان په کې سوزېدل تر دې چې د دیارلسمې شمسي سدۍ په اوومه لسیزه کې یې د شوروي اتحاد هغه نه ماتېدونکی پوځ مات کړ، نو د افغانانو له دغې فاتحانه موقف څخه نه یوازې روسان بلکې غربیان او پنجابیان هم وډار شول، چې ګواکې افغانان په ریښتیا سره خطرناک خلک دي! ځکه یې کوښښ وکړ چې اوس د یوه بل قدرت په زور دوی هم مات کړي.

بلې ! امریکایان پوهېدل چـــې افغانان هېڅکله هم بهرنی پوځـــي قدرت په خپل هېواد کـــې نه شي زغملی ځکه یې دا وار تمرکز پخپله د افغانانو په ځپلو وکړ، خو هېڅ داســـې څوک یې پیدا نه کړل چې تر افغانانو قوي وي! تر دې چې یو بل فکر ورته پیدا شو او دا مېړني جنګیالي ځوانان په خپلو منځو کې سره واچـــوي او یوپه بل یې ووهي ، دا غوره لاره وه چې پاکســـتان یې زمه واخیسته او پر نقشه یې عملي کار پیل کړ، نو دغې نقشـــې د دوی تر اټکل هم زیات کار وکړ او نتیجـــه یې دوی ته مثبته وخته ، ځکه خو یې کش ورکړ! تر دې چې افغانان یې په ریښتیا سره داسې وځپل ، چې نور نو دا توان هم نـــه ؤ پکې چې بل څوک ترې و ډار شي.هو ! همغه ځوانان چې پرون یې شـــوروي ګونډه کړ ، نن یې د خپل ورور په وینو لاسونه سره شول.خو کله چې بااحساسه افغان مبارزینو دا حالت ولید، نو دوی هم لاس په کار شول او په ډېر کم وخت کې یې ملوک الطوائفي ډلې ټپلې له منځه یووړې ، خو دغه کارغربیان قهرجن کړل او نور یې نو خبره له زغمه ووتله ځکه خو په محظ بهانه پسې شول چې څه رقم افغانستان ته راشي؟ تر دې چې د سپټمبر د یوولسمې طرحه یې عملي کړه او افغانستان یې اشغال کړ.

غربیانـــو ځکه دا کار وکړ چې هغه مهال د ټولې اســـلامي نړۍ په ســـطحه د اسلامي امارت هرکلی شوی ؤ او خلک یې تعجب کړي وو، نو دوی ووېرېدل چې هســـې نه دغه وړوکـــی ټولی یو وخت نړیوال قدرت وګرځي او یوځل بیا ستر اسلامي زعامت رامنځته کړي.

امریکا پـــه ۲۰۰۱ م کال کې دلته په ډېر غرور سره راغله او بلکل یې دا خبره زړه ته نه لوېده چې یو وخت به دوی هم د شوروي اتحاد په توګه ماتې خوري او شړل کېږي به، خو دا چې ولې یې دومره وړوکي ، د سره پوځ نه ماتېدونکي تاړاک وهلي او بیا د همغو ګورلایي جنګیالیو په لاس ځپلي هېواد ته یې حشر وکړ او هغه هم د داسې هېوادونو حشر چې زیات په کې اټومي طاقتونه وو او داسې پرمختللي وسلې یې ورسره راوړې وې چې موږ په خوب هم نه وې لیدلي.

نه یوازې دا بلکې هغه تښـــتېدلي افغانان یې هم ټول ورسره راوستل چې د ملت په وینو یې لاسونه سره وو ؟ د دې ټولو ځواب دا دی چې دوی له روس او چین څخه هم وېره لرله ! چې که موږ د پخواني شوروي مرزونو ته له داسې معاصرې او متمدنې تکنالوژۍ سره ورشـــو، نو د هغوی تند عکس العمل حتمي دی ؛ خو روس او چین ترې ووېرېدل او تر پایه یې افغان مبارزینو ته لاس ورنه کړ.

مګر افغانانو همغه د اســـلامي امارت د ســـتر زعیم او امیر (ملا محمد عمر مجاهد) له ((تـــوکل محض)) څخه کار واخیســـت. لوی ملا صاحب هغه مهال چې د بي بي سي له یوه خبریال (داود جنبش) سره په یوه مرکه کې په ډېره آرامه او ساده محلي لهجه وویل: ((یو لوی تحول را روان دی او دا به کېږي ان شـــاءالله چې امریکا به د لېست له سر څخه غررر... د لېســـت پای ته بوزي)) د همدغه متوکل زعیم تر قیادت لاندې با احساسه افغانان یو ځل بیا را پورته شول او پوره شل کاله یې له ناټو غونډې پوځونو سره ټېر په ټېر جګړه او مبارزه وکړه، تر دې چې ایســـتلو ته یې اړ کړل او بیا یې په قطر کې آتلس میاشتې چنې ورسره ووهلې او په پای کې یې د همغه ترون پر اساس و ایستل.

اوس راځم خپل هدف ته !

اسلامي امارت ته په وړوکي نظر باید و نه کتل شي ! دا همغه زعامـــت دی چې هم یې لـــه روس سره ډغرې ووهلې او د دوی پـــه ماتې کې یې پوره برخه واخیســـته او هم یې د ناټو نړیوال قوت مات کړ.

یـــو ټولی چې دوه نړیوال ابرقدرونه مات کړي چې د نړیوال فاتح لقب ورکړل شي.

اســـلامي امارت د ټول مسلمه امت لپاره د بریا راز خپور کړ او دا بنده لاره یې د تل لپاره با احساســـه ځوانانو ته خلاصه کړه او دا یې عملاً ورته وښوده چې څه رقم د غربي استعمار ځنځیرونه له غاړو لیرې کړل شي او د متجاوز دښمن غاښونه باید څه ډول مات شي.نن سبا چې اسلامي امارت په نړیواله سطحه کوم زهنیت رامنځته کړی د تاریخ په سلګونو کلونو کـــې یې هم بېلګه نه لیدل کېږي.دغه ســـتر قوت نه یوازې جګړه وګټله ، بلکې فکرونه یې وګټل ؛ داسې کارونه یې وکړل چې ټوله نړۍ یې حیرانه کړې ده ؛ د شوروي غونډې پوځ له ماتې وروسته یې له ملوک الطوائفي ګوریلایانو سره ووهل ، له هغوی نه لا خلاص شـــوي نه وو چې ټولې غربې نړۍ هجوم پرې راووړ او د ســـوپر او صفر حالت جوړ شو، خو چې کله یې سوپر صفر ته راټیټ کړ بیا یې په تورمخ وشاړه نو یې د افغانانو پر وحدت، واحد زعامت او اقتصادي پرمختګ تمرکز وکړ، تر څو خپل هېوادوال د تل لپاره د نورو له احتیاجه خلاص کړي.نړۍ دې له انصافه کار واخلي او حقیقت دې ووایي چې اسلامي امارت نن په ټوله نړۍ کې مثل نه لري او نه داسې قدرت شته چې نور له دغه زعامت سره ځان په یوه جوال کې واچوي او یا یې لږ تر لږه په فزیکي مخالفت لاس پورې کړي ان شاءالله.دا چې د رسمیت جرئت نه شي کولی علت یې یوازې له امریکا څخه وېره ده ځکه چې په نړۍ کې نن سبا هېڅ هېواد هم د امریکا په وړاندې د دریدو جرئت نه لري چې لویه بېلګه یې پر غزه د اسرائیلو وحشیانه بریدونه دي، امریکا یې نېغه تر شـــا ولاړه ده خو هېڅوک جرئت نه شي کولی چې مه ! او ولې ؟ ورته ووایي.د اسلامي امارت ټول منســـوبین باید دغې نکتې ته سم متوجه شي ؛ چې یاد زعامت ته د ټولې نړۍ د مسلمانانو سترګې دي او د امیدونو وروســـتی سنګر یې بولي او دی هم ان شاءالله خو که موږ ځانونه واړه و نه ګڼو او له وړوکو کارونو لاس واخلو.چا چې بهرنیو هېوادونو ته سفرونه کړي، هغوی ممکن یاده نکته درک کړې وي او دې ته یې پام شـــوي وي چې هغوی یې څومره قدر او عزت کوي او څومره په احترام ورته قائل دي.موږ او تاسو د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه دلته د دیني عالمانو راتګ ته باید کلک متوجه شو او د هغوی احساسات هم باید زموږ د مشرانو په وړاندې حس کړو ! هغوی په لوړه کچه عالمان دي خو بیا هم زموږ د زعیمانو لاسونه مچو کوي او موږ دغې نکتې ته هېڅ پام نه کوو چې ولې هغوی دا کار کوي ؟

زموږ دښـــمنان زموږ تعاملاتو ته (چې له نړۍ سره یې پالو) هک پک دي او اور پرې بل دی ، خو موږ هېڅ ورته متوجه نه یو.الله پاک موږ ته داسې زعامت راکړی،چې بل هېواد ته یې نه دی ورکړی! دا یوازې پر موږ د الله پاک ځانګړی پام موږ ته ښيي.د نړۍ په تاریخونو کې تر اوسه داسې پېښه بلکل نه ده شـــوې چې یوه ستر فاتح ځواک دې خپل دښمن داسې ښښـــلی وي ؛ نه یوازې ښښل ! بلکې څنګ ته یې هم ورسره کېنولی ، د لوړو امتیازاتو ورکولو تر څنګ مشورې هم ترې اخلي ، خو دا ځینې ړانده بیا وایي چې هغوی ته احتیاج دی ځکه یې دندې ورکړې.

زه خو وایم چې راځـــئ په پوره مینې سره دغه نړیوال فاتح ځواک (اســـلامي امارت) ته کار وکـــړو، راځئ چې دا غم وهلي وخت محدوده ختمه کړو او په دې پسې و نه ګرځو چې رسمیات لا پیل نه دي او رسمیات ختم شوي دي.

موږ ته کار ډېر پروت دی او وخت بیخي کم لرو !

دلته یوه خبره د یادونې وړ ده او هغه دا چې د اسلامي امارت ریښتینې خواخوږي کارمندان د وخت پروا نه ساتي ، ستره نښانه یې هم همدا ده چې وختي دفترونو ته راځي او ناوخته ځي او همدغه خلک د اسلامي امارت ریښتینې منسوبین او ریښتیني غړي دي.

ګورئ وروڼو ! که ریښتیا څوک غواړي چې خپل راتلونکی نسل له غلامۍ او دښمنۍ بچ کړي ، نو همدا نن یې فرصت دی ! دا یو زرین فرصت وبولئ او صادقانه اساس کېږدئ !

راشئ چې د اسلامي امارت بقا ته هم داسې کار وکړو لکه بریا ته مو یې چې وکړ.

راځئ چې د دغه ســـتر او پاک نظام لپاره بنیادي کار داسې فرض وګڼو لکه بریا مو یې چې فرض ګڼلې وه ، که دا کار و نه کړو نو والله که خلاص شو، سبا به بیا د کوم بهرني دښمن له خوا ځپل کېږو او هر څه به مو لوټېږي.

غزې ته وګورئ ! سرې به د عربو اقتصاد څه کړي ! خاورې دې پر داسې پیسو واوړي چې ستا ماشومان په وینو کې لېت پېت پراته وي ، ستا د خویندو لوپټې په وینو سرې او خیرل شوې وي ، میندې او لونې دې سرتورې یوې او بلې خواته ته لالهاندې منډې وي او ته د اقتصاد غم اخیستی وې.

څه شو هغه د عربو غیرت چې د یوې خور د لوپټې راټیټولو له امله یې د هغوی له مجازاتو وروســـته د یهودو ټوله قبیله له هغې سیمې و ایســـته ، مګر نن یې سترګې ړندې دي او سرونه خم.

ننګ دې وي او مرګ دې وي په بې ننګو خلکو.

په پای کې یوځل بیا غواړم دا خبره یاده کړم چې اســـلامي امارت یو ستر نړیوال اسلامي حرکت دی ، چې وخت به یې ریښتینی موقف هم ثابت کړي ان شاءالله ، خو پدې شرط چې اساسي کار ورته و شي او منسوبین یې له مقام او منزلت څخه په ایمانداری سره دفاع وکړي او ضمناً پخواني کسان چې نن د اسلامي امارت په چوکاټ کې لګیا دي صادقانه خدمت وکړي او له منافقت سره نوره مخه ښه وکړي.

ګورئ وروڼو ! هر هېواد چې مقتدر زعامت ولري همغه قوي او بریالی دی ، تاسو به وایاست چې ولې یوازې د اسلامي امارت غوره کوې ؟ الله مې له زړه خبر دی چې که مې تر دغه صف بهتر صف هر وخت ولید همغه ته ورځم ، خو نن یې بېلګه په ټوله نړۍ کې هم نه وینم.

داسې خارق العاده کارونه کوي چې سړی ورته حیران شي ! یو چا پوره شل کاله له کوره شړلی یې او دښمن دې دومره ستر قوت شاته لري چې بل څوک تاته د پناه درکولو زړه هم د ده له ډاره نشي ښه کولی او تش کور ته دې پردي ځناور باسي او ننباسي ، مقدســـات ، نوامیس ، دین ، فرهنګ ، عنعنات او... دې ټول د یوه ځناور په لاسو پایمالوي خو چې ته کله فاتحانه راشې نو دی پر ځای د دې چې مجازات یې کړې ، ویې ښښې ، ورور ورته ووایې او بیا یې خپل څنګ ته درسره وساتې او د خپلو ملګرو په تناسب لوړ امتیازات هم ورکوې.

نو په ایمان یې وواياست چې دا کار په تاریخ کې چا کړی؟

د مکې مکرمې د فتحې په ورځ د انسانیت ستر سالار صل الله علیه و آله وسلم ټول دښـــمنان وښښل، خو هغوی یې لومړی فکراً تربیه کړل بیا یې دندې ورته وسپارلې، مګر زموږ اوسني زعامت پر همغه خپل حالت پرېښوول او دندې یې هم ورته وسپارلې ؛ نن یې تخریب په خپلو سترګو ویني او حس کوي یې ، خو بیا هم وایي چې خیر دی سم به شي.

مګر زموږ دښـــمن دومره بې سترګو دی چې بیا هم جګړو تـــه لمن وهي ؛ خو نه ! اصل کـــې د دوی روزي په جګړو کې ده او ګټې یې پکې نغښتې ، ګڼې هېڅ دلیل نشته چې په افغانستان کې دې جګړه دوام ولري.

## رفح در آستانه یک نسل کشی فاجعه بار صهونیست ها

**احمد ضیا سروری**

در حالی که سرخط اخبار و تصاویر رسانه‌های جهان نشان‌دهنده سرازیر شـــدن جمعیت بزرگی از ساکنان غزه به سوی رفح در شـــرایط بسیار سخت این منطقه است، این سوال مطرح شده است که صهیونیست‌ها به جنایاتی که در بیش از چهار ماه گذشته در غزه مرتکب شـــده‌اند، ادامه داده، و به آوارگان فلسطینی در رفح نیز رحم نخواهند کرد! باگسترش اعتراضات جهانی نسبت به جنایات اشغالگران اسرائیلی، مقامات این کشور از ایده‌ای سخن می گویند که اجرای آن می‌تواند، فاجعه غیر قابل تصوری را در قبال داشته باشد.

حمله به رفـــح این روزهـــا زبان زد مقامات ســـفاک صهیونیستی اسرائیل شده است. شامگاه شنبه بود که بنیامین نتانیاهو به «آنتونی بلینکن» وزیر خارجه آمریکا گفت که عملیات زمینی ارتش این رژیم در جنوبی‌ترین نقطه نوار غزه احتمالاً ظرف دو هفته آینده آغاز می‌شود. او در آخرین رجـــز خوانی خود هم تاکید کرده که وارد نشـــدن به رفح برابر است با باخت جنگ! رفح شهری منتهی با جنوب باریکه غزه و هم مرز با مصر است.

تهاجمات خونین رژیم صهیونیستی به مناطق شمالی و مرکزی این جغرافیا، ساکنان آواره را به این شهر به عنوان آخرین سرپناه کشانده و حالا سخن گفتن از عملیات نظامی در چنیـــن محیطی اوج جنون اشـــغالگران را آشکار می‌سازد. طبق اعلامیه سازمان ملل هم اکنون یک میلیون و سه صد هزار تن از مردم غزه بیش از نصف جمعیت منطقه، در رفح متمرکز شـــده‌اند و عملیات نظامـــی در چنین نقطه‌ای پر جمعیتی جز عبور از تمام خطوط قرمز ضد بشری دیگر هیچ معنی ندارد.

کار تا جایی بالا گرفته که کشور های منطقه به اسرائیل هشـــدار داده که حمله نظامی بدون برنامه به شهر رفح به «فاجعه» می‌انجامد. اکثریت کشـــور ها همچنان بر این باور هســـتند، که هرگونه عملیات نظامی در ماه رمضان موجب تشدید تنش و گسترده شدن جنگ در کل منطقه خواهد شـــد. پیش از ایـــن اتحادیه عرب و کشورهای عربی نسبت به پیامدهای خطرناک این اقدام صهیونیست‌ها هشدار داده بودند. در این بین عملیات برنامه‌ریزی شده برای رفح باعث ایجاد تنش شدید بین مصر و رژیم صهیونیســـتی شده اســـت؛ زیرا قاهره از هجوم تعداد زیادی پناهجو به مرز سینا بیم دارد.

مصـــر در منطقه مرزی با نوار غـــزه مین گذاری کرده و سربازان زیادی را به آنجا فرستاده است؛ این کشور طی دو هفته گذشته حدود ۴۰ تانک و نفربر زرهی به شمال شرق سینا را به عنوان بخشی از اقدامات برای تقویت امنیت در مرز خود، ارسال کرده است.

قاهـــره تهدید کرده اســـت که اگر آوارگان بـــه اجبار از مـــرز عبور کنند، این به معنای نقض توافقنامه صلح با اســـرائیل خواهد بود. از ســـوی دیگر احمد الصوفی شهردار رفح هم در گفت‌وگو با الجزیره هشدار داده که هرگونه عملیات نظامی ارتش رژیم صهیونیستی در این منطقه که بیش از ۱.۴ میلیون فلسطینی آنجا در چادرها و سر پناه‌های موقت اســـکان داده شدند، فاجعه بار و غیر قابل کنترول خواهد بود. شـــبکه ۱۳ عبری اعلام کرد که هالیوی با توجه به ویژگی‌های خاص منطقه از نتانیاهو خواسته است، تا امور امنیتی را به او بسپارد و بر هماهنگی با مصر و وجود بیش ازیک میلیون فلسطینی در رفح متمرکز شود. از نظر اشغالگران و ضمن سکوت مرگبار جامعه بین المللی، از هم اکنون بر جنایت خود علیه پناهندگان در رفح با هدف کوچاندن اجباری آنها از غزه را کلید زده‌اند. بر این اساس خبرنگاران الجزیره گزارش داده اند، که در نتیجه بمباران خانه های مسکونی در منطقه «ابو حلاوه» در شرق رفح، ۲۵ فلسطینی به شهادت رسیدند و چندین نفر دیگر نیز زخمی شدند. اما شبکه های خبری فلسطینی با انتشار تصاویری در رفح نوشت با سرازیر شدن ساکنان منطقه غزه به رفح، این شهر به شهر چادرهای آوارگان تبدیل شده و علائم و قرائین نیز نشان میدهد که صهیونیست‌ها به این مردم مظلوم و بیچاره هم رحم نخواهند کرد.

# ضرورت تجدید نظر بر روابط با اسرائیل

**بشیرراحل**

چند هفته پیش کشورهای عربی جسله ای را درقاهره دایر کردند ، تا اگر توانسته باشند درقبال برادران عرب ومسلمان فلسطینی شان موقف واحد پیرامون جنگ غزه بگیرند و یاهم به یک توافق برسند ، اما اصلاً موفق به کدام فیصله واحد وعملی درمورد نشدند. جالب وقابل توجه این بود که درآن جلسه کشورهای الجزایر ولبنان پیشنهاد کردند که تمام کشورهای عرب باید از صدور نفت به اسرائیل جلوگیری کنند ، اما کشور های امارت متحده وبحرین به این پیشنهاد مخالفت کردند.

درجلسه ی کشورهای اسلامی که چندی قبل درعربستان سعودی دایر گردید بود ، انتظارات مردم عام کشورهای اسلامی برین بود که شورای بزرگ ۷۵ کشور اسلامی که از لحاظ اقتصادی وجغرافیایی در بهترین موقعیت قراردارند وامکانات فشار ومقابله با اسرائیل را نیزدارند وبدون جنگ هم میتوانند دست رژیم صهونیستی کشتار مردم عرب وفلسطین درکوتاه مدت قطع کنند ، زیرا اسرائیل به عنوان یک اشغالگر ودر ۱۹۴۸ به سرزمین کشورهای عربی واسلامی توسط کشور های غربی به زور سرنیزه تحمیل گردید واز آن زمان تاحال وقت وناوقت با مردم عرب وبخصوص مردم بی دفاع فلسطین هرروز درگیری دارند ، درحالیکه آب وهوا وبحر وخشکه تمام این منطقه در اختیار کشورهای عرب ومردم مسلمان قراردارد ، اما متاسفانه که درآن کنفرانس ۵۷ کشور اسلامی صرف با محکوم کردن لفظی جنگ اکتفا کردند وحتی به یک توافق موقتی نتوانستند سطح روابط دیپلوماتیک راباسرائیل قطع کنند تا اقلاً سفیر خودرا فرا بخوانند و شرم آوردتر ازاین هم اینکه اخیراً کشورهای غربی یک اتحادیه ده کشوری رابرای مقابله با نیروی نظامی یمن که کشتی های حامل مواد رابه اسرائیل انتقال میدهد ، هدف قرارمیدهند تشکیل نموده کشورهای عربی نیز با آنها همکاری دارند وبه همینگونه چند کشورعربی درانتقال مخفیانه مواد مورد ضرورت وتجاری به اسرائیل نیز فعالیت دارند!

اخیراً سازمان بین الملل با نشر اعلامیه خاص خود ازهمه کشورهای که با رژیم اسرائیل دارای روابط سیاسی واقتصای اند خواسته است تا درروابط خود با رژیم اسرائیل تجدید نظر کنند و افزوده است : همه کشورها باید درروابط خود با اسرائیل بازنگری کنند، تا اطمینان حاصل نمایند که درزمینه تداوم اشغالگری وسیستم اپارتاید نقشی ندارند. دراعلامیه آمده است : اسرائیل باید به منظور توقف دامن زدن به اپارتاید ونقض حقوق بشر به اشغال فلسطین پایان دهد واشغال فلسطین توسط اسرائیل طولانی ترین اشغال نظامی ویکی ازمرکبارترین اشغالگری ها درجهان است.

درچنین یک فضا سران اتحادیه ی افریقا درجلسه اخیر خود که در ادیسه بابا باحضور بزرگان ۵۵ کشور قاره مذکور گرد هم آمده بودند ،جنایات رژیم اسرائیل راعلیه مردم فلسطین تقبیح ومحکوم کردند وقابل یاد آوریست که چندی قبل افریقای جنوبی نیز دربرابر اسرائیل اقامه دعوی اپارتاید علیه اسرائیل کرد ورژیم اشغالگر را رژیم کودک کش قلمداد کرد.

فکرکنم سازمان عفو بین الملل درطول تاریخ خود به این حد اعلامیه همه جانبه صادر نکرده باشد وواقعاً که خیلی جالب است ، زیرا چنین انتظاری راملل عرب و مسلمان از به اصطلاح زعمای کشورهای مسلمان وعرب داشتند که هزاران وجوه مشترک با مردم فلسطین دارند ودرحال وآینده منافع ومصالح زیادی بین شان به آن گره خورده اما بر خلاف این انتظار بهیوده اینکه سازمان عفوبین الملل عوض آنان باصدور اعلامیه خود علیه اسرائیل جبهه گرفت واین یک اقدام نیک وضرورت شرایط فعلی درخاورمیانه است که باید ۲۲ کشور عربی و ۵۷ کشور مسلمان نیز ازآن عبرت گرفته واقلاً ازشرم کشورهای غیرمسلمان اندکی بجنبند واز زن وکودک وخورد سال ومعلول وگرسنه ومحاصره غزه وفلسطین حمایت کنند واگر در جنگ علیه دشمن هم نیستند با قطع روابط سیاسی واقتصادی مسوولیت عربی واسلامی خود را دربرابر مردم جغرافیای شان به یاد آورند ودر قبال آن گام گذارند.

# د افغانانو رښتيني استازي څوک دي ؟

**شننه او ليکنه: ارسلا مفتون (ابرار بهير)**

دوه کاله او څو مياشتې پوره کېږي، چې افغانستان له بشپړ اشغاله خلاص شوی، تازه يې د ارام ساه اخيستې، د بشپړې ځان بسياينې په لور ګړندي ګامونه اخلي.

سره له دې چې افغانستان د نړيوالو، سيمه ييزو او ګاونډيو هيوادونو د شومو پلانونو او نامشروع غوښتنو سره مخ دی، خو بيا هم د پخوا په پرتله په داخلي او بهرني اړيکو کې يو نمونه ګرځېدلی، بهرني سياست کې د توقوع خلاف مثبت نتايج لري، که هغه د اړيکو، سياسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي، تعليمي او هره برخه کې وي.

ورځ په ورځ په نورو هېوادونو کې افغان سفارتونه طالب چارواکو ته تسليمېږي، ورسره څنګ کې د نورو هېوادونو سفارتونه په افغانستان کې فعال حضور لري، چې په نتيجه کې يې سياسي، اقتصادي، نظامي اړيکې د سيمې او نړۍ په کچه نورمال حالت کې دي.

چين، روسيه، ترکيه، عربي امارات، ايران، سعودي عرب، پاکستان، جرمني، تاجيکستان، ازبيکستان، ترکمنستان، قرغزستان، ماليزيا او ډېر شمېر نور هيوادونه له افغانستان سره هر اړخيزې اړيکې پالي، يو او بل ته باور ليکونه سپاري او لا نور هم دغه لړۍ جريان لري.

بل خوا طالب او اوسنی اسلامي نظام، د افغان غيور ملت له بطن څخه راټوکېدلی نظام دی، ملت يې په پوره مېړانه په هر وخت کې کلک ملاتړ کړی، که هغه د اشغال د خاتمې په برخه او يا د نظام د ټينګښت جوړولو برخه کې وي. داخلي مشروعيت يې تر لاسه کړی، د دولت په ټولو پرېکړو، تصميمونو او د نظام په جوړښت کې ملت بشپړ او هر اړخيزه ونډه لري.

د نامطلوبو ګوندونو ختمول، د ژبې، قوم، خيل، سمت او نورو تعصبونو له منځه وړل، له ظالم څخه د مظلوم حق اخيستل، د توپک سالاريو او ملک الطوايفي له منځه وړل د اوسني اسلامي نظام لويې لاسته راوړنې دي.

په اقتصادي برخه کې يې په ميلياردونو صادرات، د هېواد د لويو ښارونو تر منځ نښلوونکي عمومي سړکونو د پخېدو چارې پيل، د اوبو مهارول، د قوشتېپې کانال جوړول، د کانونو، معدنونو، تيلو، سيمنټو، نفتو، ګازو او د ډېرو سکرو پروسس او د هغوی څخه د عوايدو تر لاسه کول يې بې ساري اقتصادي لاسته راوړنې دي.که څه هم په ملي سطحه لا ځينې سطحي ستونزې شتون لري، چې تمه ده په نږدې راتلونکې کې به حل شي، خو په بهرني پاليسي کې يو مثالي نظام دی، چې په نړيواله کچه يې له خپل حق او حيثيت څخه قاطع دفاع کړې.د دې ټولو لاسته راوړنو او مثبتو نقاطو سره سره بيا هم امريکا او نړيواله ټولنه غوارې د افغانستان اوسنی نظام تر سوال لاندې راولي، داخلي کشمکشونه، تعصبونه او ډلې ټپلې را منځ ته کړي، خپلې جاسوسې کړۍ فعالې او په مختلفو بهانو لکه: د بشر حقوق، د ښځو حقوق، تعليم او نورو بهانو دې نظام ته خنډونه ايجاد کړي.بل دا چې امريکا او نړيوالې ټولنې څو ځلې دا کوښښونه کړي، چې د طالـــب چارواکو او د هغوی له نمايندګانو په غياب کې سياسي حرکتونه او غونډې وکړي، خودسرانه پرېکړې کوي تر څو يو داسې څوک ميدان ته داخل کړي، چې نه افغان ملت او نه اوسني نظام ته د منلو وي.

طالبانو دا ډول حرکتونه په کلک غندلي او تل يې دا د پرديو بلواکو کار او په کورنيو چارو کې مداخله بللې ده.

د دوحې په وروستۍ غونډه کې د طالبانو د استازو نه شتون وښودله، چې د طالبانو حکومت له لوېديځ سره د تعامل لپاره تلوار نه لري او په خپلو اصولو او معيارونو ولاړ دي. دوی ټولې هغه ادعاوې غلطې ثابتې کړې، چې ويل کېدل به، طالبان د غرب او په ځانګړې توګه د امريکا اشارې ته انتظار دي او د دې تعامل لپاره له خپلو ځينو اصولو څخه لاس اخيستلو ته چمتو دي. د طالبانو د استازو نه ګډون د دې او دې ته ورته نظريو د باطلېدو ښکارندويې کوي.په قطر کې د افغانستان لوی سفارت سفير ډاکټر محمد نعيم وردګ يادې غونډې ته په غبرګون کې ويلي: نه مو مخکې په تشريفاتي غونډو کې ګډون کړی او نه اوس، يوازې په هغو غونډو کې ګډون کوو، چې په رښتوني توګه د ستونزو حل په کې را وځي.

د دوحې د پلان شوې غونډې په اړه ويلی شو، چې دې غونډه کې د افغان پلاوي نه ګډون د اسلامي امارت استقلاليت او خپلواکي په ډاګه کوي او دا د هغو بلواکو، رټل شويو او تښتېدلو پر مخ درنه څپېړه ده چې کلونه کلونه يې پر بېلابېلو بهانو د افغانانو نمايندګي کړې او د ځورېدلو افغانانو په سترګو کې يې خاورې شيندلې دي.

# سياست واقعی جزء شريعت و دين است

**(بخش سوم و آخری) – مولوی نور الحق مظهری**

عقیده جدایی سیاست از دین که در قرن ۱۷ میلادی در نصاری بروز کرد به مرور زمان توسط دشمنان دین به کشور های اسلامی نیز وارد گردید که امروز بخاطر تخریب عقیده ناب اسلامی از طرف دشمنان اسلام از آن استفاده صورت میگیرد و به عنوان یکی از اسباب مستقیم جنگ فکری بر علیه اسلام شناخته می شود.

هدف کسانی که سیاست را از دین جدا میدانند این است که جلو حاکمیت اسلامی را بگیرند و جامعه مسلمانان را از قوت همه جانبه و معجزانه اسلام دور کنند و به مرور زمان بطور تدریجی همه مسلمانان را در یوغ بردگی کفار و انسانهای بی دین گرفتار کنند چنانچه از بدو بروز این پدیده فتنه انگیز نمونه های زیادی از آن دیده شده و در صفحات تاریخ ثبت است.

یکی از دسیسه های که یهود، نصاری و منافقین برای سقوط خلافت عثمانی و دیگر نظام های اسلامی به کار برده اند، نشر همین عقیده منحوس سیکولاریزم است که آنرا در فکر جوانان مسلمان تزریق نموده و آنها را به انحراف فکری و سیاسی آغوشته اند که در نتیجه از عقیده و عمل اسلام دور شده و در دام مهلک دشمنان دین هلاک گردیده اند.کسانی که سیاست را از دین جدا می دانند، کوشش میکنند در بین علماء دین و مردم فاصله ایجاد کنند و نظام های اسلامی که در وقت شان حاکم است، متهم به فساد، تبعیض و کارهای دیگر غیر انسانی بکنند تا اینکه مردم را از حاکمیت اسلامی متنفر سازند و خود شان با عقیده کفری شان بر مسلمانان حاکمیت بکنند و همچنان انسانهای سیکولار و بی دین بر علیه کشور های اسلامی دسیسه سازی می کنند و اکثر اوقات همچون مردم، آله دست کفار گردیده و در صف مقدم کفار بر ضد مسلمانان و نظامهای اسلامی جبهه گیری میکنند که نمونه بارز آنها کمونیستهاست که در صف مقدم روسها آمدند و کشور شان را به خاک و خون کشیدند و همچنان بعض مسلمان نماهای غربگرا که در صف مقدم امریکا و ناتو حرکت کردند و برعلیه کشور شان افغانستان جنگ ویرانگر را آغاز کردند.مردم مسلمان ما باید هوشیار باشند وهیچگاه فریب چنین افراد شیطان صفت را نه خورند زیرا اینها نه تنها اینکه کشور های اسلامی را بدست کفار میدهند، بلکه هویت و شخصیت مسلمانان را می ربایند و کوشش میکنند که جامعه مسلمانان مملو از هر گونه فساد گردد تا راه فعالیت برای آنها باز شده و مسلمانان را شکار فکر مفسد خود شان بگردانند.کسانی که سیاست را از دین جدا می دانند بر مدعای خود هیچ دلیل قابل اعتبار نقلی و عقلی را ندارند، بلکه در بیشترین مناظره های و مباحثه های که در این مورد شده است مرتکب شکست فضیحانه شده اند که تاریخ پر از همچون حوادث است.

# اې سرکشه نفسه !

**منير فاروقي**

نه پوهېږم، چې له کومه ځايه يې پيل کړم.
کومې بدې کړنې او اعمال بيان کړم، چې مونږ مسلمانان يې کوو. يوه، دوه او درې نه دي چې زه به يې په ګوته کړم. خدای دې پر مونږ رحم وکړي.
تر څو به د الله جل جلاله له اوامرو سرکشي کوو ؟
کوم وخت ته منتظره يوو؟
کله به پر خپلو کړو ګناهونو توبه وباسو؟
په کوم علت او وجه توبه ځنډوو؟
تر څو به د کفارو په اشارو او د خپل منصب او چوکۍ ساتلو په خاطر خپل مسلمان ولس وژنو او ځوروو؟
کله به په خپل اسلام، قران، مسلمان او بيت المقدس غيرت کوو؟
تر څو به دا د بې عزتۍ او بيغيرتۍ ژوند ته دوام ورکوو؟
تر څو به زموږ په مخکې بې ګناه او بې وزله مسلمانان وژل کېږي او موږ به د مرګ له ډاره هېڅ نه وايوو؟
تر څو به د دې دروغجن حکمت څخه کار اخلو؟
ولې موږ کې هغه خلک ورک شو، چې د يوې خور، واه معتصماه! غږ ته يې، زرګونه ځوانان ورولېږل، تر څو هغه د کفارو له ظلمه خلاصه کړي؟
خو خبردار! مرګ راتلونکی دی، که د مرګ له ډاره ځان د مور په غېږه يا د فولادي دېوالونو څخه جوړه محکمه کلا کې هم پټ کړئ؛
بيا به هم مرګ درته راځي او له دې فاني نړۍ سره به الوداع کوئ.
په الله جل جلاله ځوګند که دغه له مرګه ډار، په کور ناسته او بې غيرتي مو له مرګه وساتي، ځکه چې رب تعالی په خپل کلام قران عظيم الشان کې فرمايي: (هر نفس ځکونکی د مرګ دی او بيا زموږ خواته ستاسو راتلل دي). دا خو معلومه شوه، چې څوک له مرګه نه شي خلاصېدی، نو اې مسلمانه وروره! که همدا اوس مرګ درته راشي؛ نو ته به الله جل جلاله څه ځواب ورکوې؟
آيا ورته وايې به، چې ځوان وم؟
آيا ورته وايې به، چې زوړتوب ته منتظر وم، بيا مې توبه وېستله؟
آيا ورته وايې به، چې موږ ضعيفه وو او له کفارو سره مو زور نه رسېده؟
آيا ورته وايې به، چې له دې ډارېدم هسې نه مړ شم؟
آيا ورته وايې به، چې پوه نه شوم؟
څه ورته وايې؟ کومه پلمه لرې، چې د الله جل جلاله په حضور کې يې وړاندې کړې؟
که پلمه او حيله کوې؛ نو افسوس ستا پر حال!
اې سرکشه نفسه! د الله جل جلاله څخه ووېرېږه، نور مه ناوخته کوه، همدا دې وخت دی؛ توبه وباسه، په خپلو بدو کړنو الله ته وژاړه، مرګ ډېر نږدې دی.
الله مه کړه، هسې نه پرته له توبې او په دغه فاسده عقيده له دې دنيا ولاړ شې.

# گزارش سفری محمدصدیق افغان به جمهوری فدراتیف روسیه

محمد صدیق افغان رئیس مرکز تحقیقاتی ریاضی فلسفی جهان به اساس حکم شماره ۴۰۴ مورخ ۱۴۰۱/۶/۱۷ مقام محترم ریاست الوزراء امارت اسلامی به جمهوری فدراتیف روسیه جهت ارایه کنفرانس ها و سیمینار ها سفر رسمی داشتند که ایشان به چندین کشور دیگر مانند منگولیا، بلاروس و ترکیه نیز دعوت شدند، ایشان با اشتراک در کنفرانس ها و سیمینارها برای دانشمندان و ریاضی دانان آنجا سخنرانی نمود که مورد استقبال گرم قرار گرفته و باکسب مدالها و افتخارات همچنان به اخذ مدال یونسکو نیز مفتخر گردیدند، موصوف به تاریخ ۱۴۰۱/۹/۱۹ به وطن عودت نموده و ازینکه کنفرانس های شان نا تمام مانده بود دوباره به تاریخ ۱۴۰۱/۹/۲۳ با گذاشتن یک رقعه رخصتی با موافقه رئیس اکادمی علوم افغانستان مجدداً سفر نمودند که نامبرده در این سفر راجع به نظم قرآنکریم حقانیت دین مبین اسلام به حاضرین کنفرانس ها با حضور داشت دیپلومات های امارت اسلامی افغانستان و ژورنالیست ها از دیدگاه ریاضی فلسفی بحث علمی و تحقیقی داشته که در نتیجه باعث مشرف شدن چندین نفر به دین مبارک اسلام گردیده که از طریق مطبوعات جهان بدست نشر سپرده شده است.

نخست محمد صدیق افغان فیلسوف و مؤسس ریاضی فلسفی با جمال الناصر غروال سرپرست سفارت کبرای امارت اسلامی افغانستان مقیم شهر مسکو کشور فدارسیون روسیه دیدار وملاقات مفصل راانجام دادند که درآغاز سرپرست سفارت با ایشان ازبابت اشتراک در کنفرانس های علمی بین المللی به نمایندگی از افغانستان، خوش آمدید گفته و آرزوی مؤفقیت را برای ایشان نموده و در تلاش و جلب توجه و همکاری جهانیان را به افغانستان نموده که در این ملاقات جناب افغان صاحب پیرامون دعوت خویش به فدراسیون روسیه و اشتراک فعال ایشان در کنفرانس علمی و بین المللی که با شرکت نمایندگان پنج قاره دنیا تحت نام (قدرت صلح در جهان ) به اشتراک عده کثیری از شخصیت های سرشناس علمی واجتماعی روسیه وجهان درشهر مسکو تدویر گردیده بود، سخنرانی نمودند.در کنفرانس متذکره دانشمندان علوم اجتماعی، فلسفی، استرالوژی و ریاضی صحبت نمودند که به نمایندگی از علماء و دانشمندان اکادمی علوم افغانستان ایشان صحبت های علمی و اکادمیک خویش را ایراد فرمودند و همچنان به دعوت رسمی یک تعداد مؤسسات اکادمیک، مراکز اسلامی، سازمان های اجتماعی و فرهنگی روسیه دعوت گردیده بودند که از ایشان تقاضای ارایه لکچرها و اشتراک در محافل را نمودند که در ذیل به تفصیل آن میپردازیم:- محترم محمد صدیق افغان به تاریخ ۲۲ سپتمبر ۲۰۲۲ در کنفرانس بین المللی که زیر نام (فورمول زندگی) در شهر مسکو دایر گردیده بود اشتراک و سخنرانی نمودند.- دعوت رسمی از سوی ژوکوا آلمیرا راشیتونا مدیر اجرایی سازمان عمومی منطقوی برای حقوق بشر و شهروندی در جمهوری باشقورستان.

- ۲۸ سپتمبر ۲۰۲۲ سخنرانی در دفتر انجمن وکلای روسیه در جمهوری باشقورستان.

- ۲۹ سپتمبر ۲۰۲۲ سخنرانی برای دانشجویان شعبه اوفا ( پوهنتون تعاونی مسکو) در شهر اوفا.

- ۳ اکتوبر ۲۰۲۲ دیدار با خانواده و شخص رئیس جمهور باشقورستان محترم رادی خبیروف.

- ۴ اکتوبر ۲۰۲۲ ملاقات با محترم الیاتو دینوف ایلدار مفتی ارشد مسکو و منطقه مسکو.

- ۷ اکتوبر ۲۰۲۲ روز جمعه توضیح ریاضی فلسفی و اسلام در محراب بزرگترین مسجد روسیه در شهر مسکو ( پرسیکت میرا) با حضور داشت هزاران نماز گزار.

- ۷ اکتوبر ۲۰۲۲ شب جمعه تقدیر از مقام علمی محترم صدیق افغان در اداره ریاست جمهوری فدراسیون روسیه.

- ۸ اکتوبر ۲۰۲۲ بنیاد (نود) گردهمایی باشکوه را سازماندهی نمودند که با اشتراک محمد صدیق افغان وعده کثیری از دانشمندان عرصه های مختلف علوم اجتماعی، سیاسی و مدنی شرکت نمودند.

- ۲۱ اکتوبر ۲۰۲۲ شرکت در کنفرانس بین المللی ( روندهای مدرن بشریت و آینده نزدیک ) هدف اصلی این کنفرانس تشریح چگونگی حرکت کشورهای جهان از نظام سلطه ی مادی به نظام سلطه ی فکری و چگونگی غلبه برچالشهای کنونی و اجتناب از پیامدهای منفی احتمالی آن.

- دعوت رسمی از سوی ساینخوی سیرینچیمید رئیس فدراسیون دانشمندان مغولستان که هدف از این کنفرانس ارایه تاریخ روند حال و آینده مغولستان و همچنان عمق ریاضیات در پوهنتون ها و مؤسسات تحقیقاتی در جمهوری مغولستان، سخنرانی ها، آموزش ها، جلسات جمعی و جلسات در سطح حرفوی و ریاضیات بود:

- ۱ نوامبر ۲۰۲۲ سخنرانی در پوهنتون عالی مغولستان برای دانشمندان محققین، دانشجویان دوکتورا و ماستری که از طرف محترمه زیگیما چویندون رئیس پوهنتون دعوت شده بودند.

-۲ نوامبر ۲۰۲۲ سخنرانی در فاکولته ریاضیات و علوم پوهنتون تعلیم و تربیه ی مغولستان برای دانشمندان، محققان، دانشجویان، دکتورا و کارشناسی ارشد که از طرف محترم گنبات مدیر و استاد فاکولته متذکره دعوت شده بود.

-۳ نوامبر ۲۰۲۲ ملاقات در کاخ دولتی مغولستان با محترم زاند نشاتار گومبوژاو رئیس پارلمان مغولستان و مسؤلین مراکز علمی و تحقیقاتی برگزار شد که در این ملاقات در مورد گسترش و توضیح روابط دوجانبه بین دو کشور و همچنان در مورد گذشته و آینده مغولستان و افغانستان بحث و گفتگو صورت گرفت. رئیس پارلمان مغولستان از طرف خود و از طرف دولت و مردم مغولستان سلام ها و تمنیات نیک خود را به مردم شریف امارت اسلامی افغانستان ابراز داشته و برای همکاری های هر چه بیشتر بین این دو کشور ابراز امیدواری نمودند.

- ۴ نوامبر ۲۰۲۲ سخنرانی در پوهنتون ملی مغولستان برای دانشمندان، محققان، دانشجویان دکتورا و کارشناسی که توسط محترم پروفیسور بدارج دندف رئیس و استاد پوهنتون متذکره دعوت شده بودند.

- ۵ نوامبر ۲۰۲۲ محمد صدیق افغان به دعوت رئیس اجرایی انستیتوت بین المللی فلسفی ریاضیات (Brand Graphic LLc) و با دعوت ویژه کلکتیف دانشمندان برجسته ریاضیات ملاقات شخصی برگزار کردند علاوه بر این ساین بویان امرسایخان معاون نخست وزیر مغولستان شخصاً با آنان دیدار نمودند که سلام ها وصیمانه ترین تمنیات نیک خود را به نمایندگی از رئیس جمهور و مردم خویش به محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القران مولوی هبة الله آخوندزاده حفظ الله، مقامات محترم دولتی امارت اسلامی افغانستان، رئیس اکادمی علوم و مردم شریف افغانستان ابراز نمودند که در گفتگو از همکاری مشترک برای از سر گیری روابط دوستانه بین دو کشور ابراز خرسندی گردند.

- ۱۷ دسامبر ۲۰۲۲ محمد صدیق افغان به شهر مینسک جمهوری بلاروس تشریف بردند و مصاحبه باخبرگزاری اسپوتنیک جمهوری بلاروس که شامل ویب سایت ها، پخش آنلاین از طریق صفحات اجتماعی، رادیو اسپوتنیک و مراکز مطبوعاتی و آژانس های اطلاعات بین المللی (Rossiya segodnya) با میزبانی روزنامه نگار شاراپف ویچسلاو ویچ انجام یافت.

- ۱۸ دسامبر ۲۰۲۲ مصاحبه برای کانال جامعه بشریت با میزبانی اوسانین الکساندر ایوگیانیویچ نویسنده و فیلسوف اجتماعی صورت گرفت.

- ۱۸ دسامبر ۲۰۲۲ شرکت و سخنرانی نامبرده در سمپوزیم بین المللی که تحت نام ( هشتمین فورم تجارتی شمالی لیوادیا) که در شهر مینسک دایر گردیده بود، صورت گرفت.

- ۱۹ دسامبر ۲۰۲۲ سخنرانی ایشان در گردهمایی انجمن ( اتحادیه سربازان بازنشسته و سابق در سایر کشور ها) با میزبانی محترم یوسف الکساندرویچ کروگلیکوف انجام یافت.

- ۲۰ دسامبر ۲۰۲۲ ملاقات باخانواده و شخص محترم اندری ارکات یوویچ یوانوف اکادمیسین اتحادیه ی بین المللی کارشناسان مدیریت، نویسنده و شخصیت اکادمیک داشتند.

- ۲۱ دسامبر ۲۰۲۲ محمد صدیق افغان به طرف کشور ترکیه شهر استانبول برگشته که در آنجا یک خانم را به دین اسلام مشرف ساختند که در مطبوعات کشور ترکیه و صفحات اجتماعی نشر و پخش گردید.

- ۱۰ فبروری ۲۰۲۳ مصاحبه ی دراستدیوهای (Radio Russia) و (St.Petersbutg) (SPb) اشتراک ورزیده که به مناسبت روز علم روسیه صورت گرفته بود مراسم پذیرش آقای افغان در انجمن متذکره و تقدیر از ایشان صورت گرفت.

- ۱۱ فبروری ۲۰۲۳ ارایه ی داکلاد یا مقاله در کنفرانس (ما و آینده جهان باز) با نمایش فلم مستند از فعالیت های علمی جناب افغان در زمینه ریاضیات در سالون کنفرانس هوتل اسپوتنیک سانت پترزبورگ.

-۱۲ فبروری ۲۰۲۳ سخنرانی آقای افغان در مورد ریاضیات فلسفی به عنوان علم شناخت جهان و رویداد ها در حضور اشتراک کنندگان و نمایندگان رسانه ها در سالون کنفرانس های (لیننگرادسکی) در هوتل مسکو شهر سانت پترزبورگ.

- ۱۳ فبروری ۲۰۲۳ برگشت محترم صدیق افغان به کشور مسکو .

- ۲ مارچ ۲۰۲۳ اشتراک در کنفرانس بزرگ که برای ایجاد ( اتحادیه دانشمندان جهان) تشکیل شده بود اشتراک ورزیدند.

قابل تذکر است که اکادمی بین المللی علوم شیخ الحدیث مولوی فریدالدین محمود رئیس اکادمی علوم افغانستان را برای مذاکرات و همکاری های دو جانبه و انعقاد قرار دادها در زمینه های مختلف علمی با مراکز آموزشی و سازمان های علمی فدراسیون روسیه به مسکو دعوت نمودند. این اکادمی در نظر دارد تا با تشریف آوری جناب ایشان به پایتخت روسیه پشنهاد برگزاری مجمع (فورم بین المللی ) را مطرح نمایند تا به آساس آن مسابقات مقالات علمی و تحقیقی در زمینه های مختلف برگزار خواهد شد.

-۲ مارچ ۲۰۲۳ در شهر مسکو پایتخت فدراسیون روسیه کنگره دانشمندان جهان در جلسه هیأت رئیسه ی خویش محترم محمد صدیق افغان را به اتفاق آراء به عنوان رئیس افتخاری اکادمی بین المللی علوم تعیین کردند.

- بنیاد ابتکارات فرهنگی ریاست جمهوری روسیه ،بابت فعالیت های علمی در امور علوم ریاضی فلسفی محترم افغان را برنده جایزه ی ملی ( افتخار خانواده) اعلام نمودند همچنان به خاطر ارج گزاری به خدمات شایسته و قابل قدر افغان از سوی کمیته ی حمایت برنامه های فرهنگی، علمی و آموزشی و به صنعتی رئیس جمهور فدراسیون روسیه، مدال دولتی (ستاره میهن) را برای ایشان تفویض گردید.

- ۳ مارچ ۲۰۲۳ اداره ی پوهنتون جدید روسیه استادان و مسوولین ایشان از محمد صدیق افغان قدردانی نمودند.

- ٦ مارچ ۲۰۲۳ بنابر دعوت رسمی کوشورکوالکساندرنیکولایویچ رئیس انجمن (وحدت) به شهر سانت پترزبورگ فدراسیون روسیه سفر نموده که در آنجا با نمایندگان مجلس قانون گزاری شهر سانت پترزبورگ با رؤسا و نمایندگان پوهنتون ها، وکلای پارلمان ملاقات و گفتگو داشتند و همچنان با تاجران برای بحث در مورد ایجاد یک مرکز هماهنگ کننده علمی واحد در شهر سانت پترزبورگ دیدار و گفتگو نمودند.

همچنان یک قطعه زمین به مساحت یک هکتار که در سال ۲۰۱۷ در یک سفر رسمی در شهر سانت پترزبورگ از طرف کشور فدراسیون روسیه برای نمایندگی مرکز تحقیقاتی ریاضی فلسفی در آنجا اهدا گردیده بود، ایشان سنگ تهداب آنرا بنا نهاده که کار ساختمانی آن جریان دارد.

صدیق افغان در این سفر به کشور های فدراسیون روسیه، منگولیا، بلاروس و ترکیه سفرهای علمی خویش را تمام نمودند.

# کاسا زر پروژه د ثبات او اقتصادي ځان بسیاینې پیلامه!

وحیدالله - هڅاند

نن سبا نړۍ کې د لویو او کوچنیو هېوادونو لپاره انرژي له ټولو مهم لومړیتوب او ستراتیژیکه موضوع ده. دغه برخه کې د انرژۍ تولیدوونکو هېوادونو ته د مارکېټ امنیت مهم دی او ترلاسه کوونکو هېوادونو ته یې بیا د منابعو امنیت مهم دی،خو د انرژۍ د لېږد رالېږد لار د دوو هېوادونو لپاره له ټولو مهمه موضوع بلل کېږي، افغانستان پر همدغسې یوې لارې پروت دی،چې له ګاونډیو هېوادونو سره د انرژۍ په لېږد رالېږد کې ګټور تمامېدای شي، له همدې امله په دې وروستیو کې نړیوال بانک د کاسا زر پروژې د عملي کارونو د بیا پیلېدو خبر ورکړی او تېره اوونۍ یې په یوه خپاره کړي راپور کې ویلي، چې د یاد بانک په مالي ملاتړ له منځنۍ اسیا څخه سوېلي اسیا ته د افغانستان له لارې د انرژۍ لېږد عملي کارونه به په نږدې راتلونکې کې پیل کړي، له دې وړاندې داسې تمه کېده،چې دا پروژه تر ۲۰۲۳ م کال پورې بشپړه شي، خو د سیاسي تحولاتو په راتګ سره د دې پروژې چارې په ټپه ودرېدې.

د دغې سترې ملي پروژې چارې،چې د هېواد د ننه د اوبو او انرژۍ وزارت او افغان برېښنا شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي، کولای شي سیمه کې د اقتصادي پرمختګ، سیاسي ټیکاو او د افغانستان لپاره د نړیوال باور زمینه برابره کړي،پاکستان چې د ګرمۍ په موسم کې د برېښنا د نه شتون له جدي ستونزې سره لاس او ګرېوان وي، له دې لارې به وکولای شي،خپله د اړتیا وړ برېښنا ترلاسه کړي. اټکل کېږي،چې د دې پروژې په پلي کېدو سره په سیمه او څلورو هېوادونو کې د غربت مخه ونیول شي او تر پلې کېدو وروسته د زرګونو دندو پیدا کېدو لامل شي. د سیمې اقتصادي چارې به ورځ تر بلې مخ په ښه کېدو شي او غربت به له منځه یوسي، دا په داسې حال کې ده، چې تر دې مهاله د کاسا زر پروژې د رغونې چارې په قرغزستان کې ۹۷ سلنه، تاجیکستان کې ۷۰ سلنه، افغانستان کې ۳۰ سلنه او په پاکستان کې ۵۰ سلنه ترسره شوې دي.

افغان ولس د یادې پروژې د بیا پیلېدو په اړه ځکه خوښ دي،چې افغانستان کې د ورته پروژو تطبیق پر اقتصادي ګټو سربېره د پیوستون د نقطې په توګه ارزښت تثبیتوي،بل پلو به افغانستان کې د فقر،بې وزلۍ او بېکارۍ کچه راکمه او ډېر خلک به په کار بوخت شي او تر ټولو مهمه دا چې د برېښنا کمښت ستونزه کې به کموالی راشي.

په همدې حال کې د افغانستان برېښنا شرکت د نړیوال بانک د هغې پرېکړې هرکلی کړی، چې له مخې به یې د کاسا زر پروژې نیمګړې چارې بشپړې شي، په دې اړه د برېښنا شرکت ویاند حکمت الله میوندي ویلي: ((د افغانستان برېښنا شرکت مشرتابه او رهبري د نړیوال بانک د هغې پرېکړې هرکلی کوي،چې له مخې یې دوی د کاسا زر پروژې پاتې چارو ته لېوالتیا ښودلې ده. د افغانستان د برېښنا شرکت دغه نېک اقدام د ولس او سیمې پر کچه اړین بولي او مننه ترې کوي، ترڅنګ یې غواړي ټولې هغه پروژې دې بیا پیل شي، چې نړیوال ډونران او پانګه وال یې درلودل.))

کاسا زر پروژه د قرغزستان په شمال کې د تکاء له سیمې پیلېږي او د شېرخان بندر له لارې د افغانستان شمال ته ننوځي او د کندوز-بغلان-پنجشېر-کاپیسا-کابل-لغمان-ننګرهار له لارې،چې ۳۵ ولسوالۍ په بر کې نیسي د خیبرپښتونخوا مرکز پېښور ته رسېږي،چې ټولیز اوږدوالی یې ۱۲۵۰ کېلومتره اټکل شوی او ۵۶۲ کیلومتره به یاده لیکه په افغانستان کې غځول کېږي، چې ۳۰۰ مېګاواټه برېښنا افغانستان او پاتې ۱۰۰۰ مېګاواټه یې بیا پاکستان ته ورکول کېږي،چې د یادې پروژې په اوږدو کې به ۱۵۲۰۰۰ افغانې کورنۍ په مثبته توګه ترې اغېزمنې شي.

د کاسا زر پروژې په اړه به له ډېرو هېوادوالو سره دا پوښتنه وي، چې د افغانستان لپاره یاده پروژه ولې مهمه ده؟ نو په لاندې ټکو کې به د لوستونکي پوښتنې ځواب شي: یاده پروژه په اوږد مهال کې د افغانستان لپاره ځکه حیاتي ارزښت لري،چې د څلورو هېوادونو (قرغزستان، تاجیکستان، پاکستان او افغانستان) د اقتصادي اړیکو په پراختیا کې اغېزمن رول لوبولی شي او نورو پروژو ته زمینه مساعدوي- یاد غړي هېوادونه به له یو لړ اقتصادي، ټولنیزو او محیطي ګټو برخمن شي- د پاکستان او افغانستان لپاره به د انرژۍ د کمښت ستونزه کمه شي- کاري فرصتونه به رامنځته شي او ډېرو خلکو ته به په کې کار پیدا شي- د سوداګرۍ د ودې لپاره مرسته کولای شي- د سیمې د خلکو ترمنځ دوستي پراخوي- د یادو هېوادونو لپاره به د پراخو اقتصادي او تاریخي همکاریو پیلامه وي-د یادې پروژې اقتصادي بریاوې به د سیمې له سولې او امنیت سره مرسته وکړي-د فابریکو د برېښنا د نشتون اندېښنه به کمه شي او خپل تولیدات به زیات کړي،چې ورسره به زیاته کارګره قوه په کار بوخته شي- په سیمه او نړۍ کې به د افغانستان حیثیت او اعتبار زیات کړي - کورنیو ته به د همدې پروژې پرمټ د ټولنې د ملاتړ د پروګرام ترنامه لاندې، د څلوېښت میلیونه ډالرو په ارزښت ټولګټې پروژې د کلیو او پراختیا وزارت له لوري د خلکو له غوښتنې سره سم پلې شي، ترڅو هغه سیمې او کورنۍ چې د دې پروژې له پلي کېدو څخه متاثره کېږي ورڅخه ګټه واخلي - د دې پروګرام په چوکاټ کې په پام کې ده،چې پلونه، پلچکونه، لارې، د اوبو واړه بندونه، استنادي دېوالونه او د برېښنا وړې پروژې په سیمه کې پلې شي- په یادو پروژو کې به تر ډېره بریده هڅه وشي،ترڅو هغو کلیو او بانډو ته چې دا پروژه ځینې تیرېږي ۵۰ سلنه د برېښنا د تولید وړې پروژې پلې شي، د پروژې تر پوښښ لاندې ۷۰ سلنه کورنۍ به د ټولنیزو اقتصادي پروژو څخه برخمنې شي- صادرونکي هېوادونه به له دې طریقه عواید ترلاسه کوي!

لنډه داچې د کاسا زر پروژه د افغانستان اقتصادي ودې لپاره مهمه دروازه ده، چې ګټه یې په مستقیمه توګه عامو افغانانو ته رسېږي او ډېر ژر به د ۱۵۲ زره کورنیو په ژوند کې بدلون راوړي، د افغانستان لپاره به د کاسا زر لومړنۍ اقتصادي پروسه وي،چې دا مسیر پیلوي، ځکه د افغانانو لپاره نه یوازې اقتصادي لاسته راوړنې لري، بلکې د افغانستان د عوایدو لوړېدو لامل هم کېږي، چې دا به د نورو ورته پروژو لپاره به هم لاره هواره کړي، په دې اړه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت هم ویلي، چې افغانستان به په کلنۍ توګه د کاسا زر پروژې له درکه له ۴۰ تر ۵۰ میلیونه ډالرو د ټرانزیټ حق ترلاسه کوي.

## غزل

**انس حقاني**

پـه غږ يې عرش ولړزېـده، دنيا خبره نه وه
له درد او څړيکو جوړه سـانده وه، سـندره نه وه

مـا پـه هر څه او په هر چـا باندې ضرور څه ويل
تـا ته مې بې له خاموشـۍ، بله خبره نه وه

د تواضـع پګړۍ يـې ولوېده له سره څخه
غـرور خرابه کړه کنه داسـې ککره نه وه

دردونـو ويښ کړم، مينې نوی ژوند را وبښـلو
شـکر چې زړه و، په سـينه کې مې ډبره نه وه

د زمانـې غشي په زړه د انـس نه لګېدل
د مـور دعاء وه ترې چاپېـره، بله زغره نه وه

## د کونـړ سيـند

**طيب**

رانـه اقدام غواړي تکل غواړي
د کونـړ سيــند مهارول غــواړي
ګاونډيان تل را اوړدوي لاسـونه
د دوی لاسـونه پرې کول غواړي
عجيبه نه ده دوی اغــزي کرلي
خو حاصلاتـو کې بيا ګل غواړي
د امريکا کيمـپ کې پراته غلامان
راپـورته شــوي بيا کابل غــــواړي
د فلسطين ماشـومان چيغي وهي
د طالب جان غوندې اتل غــواړي!
دلته بې کـوره مهاجر طيبه
ګــوله ډوډۍ غواړي کمپل غواړي


## شهيد آشنا

**مغفــور شهيدزی**

زه ادم زاد وم زه د خلکو په ناڅېزه قســم
د مــحبت له جنـــــت ووتم په چيغو چيغو
زه افغانـی وم لـه خپل کور هم په ژړا لاړمه
بيا له ديار د هجـــرت ووتم پـه چيغو چيغو
د مور رحم راته له سـترې ژوند څو ځله ښـه و
زه له يو داسـي رحمت ووتم پـه چيغو چيغو
شـهيد آشنا سـتا په نوم ناسـته منتظره پيغله
نن يې وِېل سـتاله قسـمت ووتم په چيغو چيغو

# د قرآنکريم رياضي حقايق

**سيد معصوم الله عاصم**



قـرآن داسـې کتـاب دی چـې حقايـق يـې تـر قيامتـه ثابـت دي او ورځ پـه ورځ نـور هـم ثابتېـږي، پـه قـرآن کـې ۱۰۰۰ آيتونـه د سـاينس پـه هکلـه راغلـي د قـرآن د علومـو د حکمتونـو يـوه ځانګېرنـه دا هـم ده چـې خپـل رياضيکـي ثبوت هـم لري، چې علمـاوو پـه ډېـر مهـارت تـرې استـخراج کـړي دي، په لنـډ ډول يـې ستاسـو مـخ تـه ږدم:

اول: د اوسپنې په هکله الله تعالی فرمايي:

ژبـاړه: او اوسـپنه مـو راکـوزه کـړه چـې پـه هغـې کـې ډېـر زور دی او د خلکـو لپـاره ګټـې دي. (الحديـد۲۵)

اوسـپنه داسـې کلـک فلـز دی چـې اتومـي نمبـر يـې (۲۶) او اتومـي وزن يـې (۸۷۷،۰۰) يـا (۵۶) دی، او کـه چېـرې د الحديـد چـې د قـران ۲۵ سـورت دی او بسـم اللـه ورسـره جمعـه شـي؛ نـو (۲۶) آيتونـه کېـږي چـې د اوسـپنې اتومـي نمبـر هـم ۲۶ دی او الحديـد پـه قـرآن کـې ۵۶ سـورت دی او د اوسـپنې اتومـي وزن هـم ۵۶ دی.

دوهـم: لـه ټولـو نـادر دا چـې د بعثـت پـه پنځـم کال رسـول اللـه صلـی الله عليه وسـلم تـه اللـه تعالـی د سـپوږمۍ نېمېدو معجـزه ورکـړه او دا پېښـه د مکـې پـه مينـا کـې واقـع شـوې وه او زياتـو خلکـو پـه مکه، مدينـه او ټولـو هېوادونـو کـې ولېـده،دا پېښـه قـران داسـې ذکـر کـړې:

ژبـاړه: د قيامـت سـاعت رانـژدې شـو او سـپوږمي وچاودلـه (دوې ټوټـې شـوه). ( القمـر۱ آيـت)

د امريـکا لومړنـۍ فضايـي بېړۍ پـه (۱۹۶۹) کال کې سـپوږمۍ تـه وختـه او هغـوی لـوی درز چـې ۱۴۰۰ کالـه پخـوا پيـدا شـوی وه وليـد، نېـل مسـټرانګ او ملګـرو يـې دا معجـزه ثبوت کـړه او دا پېښـه د قـران څخـه دا ډول ثابتـه شـوې ده :

السـاعه و انشـق القمـر چـې د ابجـد پـه حسـاب دا ډول عـدد پـه لاس راکـوي

الــلـــســـــاــعــةـــوـــاـــنــــشــقـــاـــلــقــ مــرـــ

۱ــ۳۰ــ۶۰ــ۱ــ۷۰ــ۴۰۰ــ۶ــ۱ــ۵۰ــ ۳۰۰ــ۱۰۰ــ ۱ــ۳۰ــ۱۰۰ــ۴۰ــ۲۰۰

لـوړ مجموعـه حـروف ۱۳۹۰ کېـږي چـې ۱۳۹۰ هجـري کال د ۱۹۶۹ کال سـره برابرېـږي پـه ۱۹۶۰ کال هغـه نېټـه ده چـې امريکايـی پيلوټـان پـه لومـړي ځـل سپوږۍ تـه وختـل او پـه سـپوږمۍ کـې يې لـوی درز (چـاود) لېدلـې او د سـپوږمۍ د دوه ټوټـې کېدلـو ثبـوت يـې راويسـتلی دی.

# سرتيري ته سپارښتنې

**لومړۍ برخه-حسان مجاهد**

د نيت اصلاح او خپل هدف پېژندل

زړه ته را تېره سرتېريه!

سـتر لارښـود رسـول اللـه فرمايـي چـې د ټولـو اعمالـو صحـت او فسـاد پـه نيـت پـورې تـړاو لـري.

ابـن ابـي جمـره «رح» وايـي: زړه مـې غـواړي چـې ټـول وخـت د فقهـاوو ټولـی د دې لپـاره ناسـت وای چـې خلکـو تـه يـې د خپلـو اعمالـو اهـداف پـه ګوتـه کـولای او نيتونـه يې اصـلاح کـولای؛ ځکـه زيـات شـمېر خلکـو تـه د ناسـم نيت لـه املـه سـتونزې رسـېږي.

ښـه نيـت دومـره اهميـت لـري چـې ډېـر وخـت بـه يـو چـا کـوم عمـل او قـول نـه وي کـړی؛ مګـر پـه ښـه نيـت سـره به د ثـواب څښـتن وګرځي.

پـه ځمکـه کـې يـو شـرعي اميـر ټـاکل، د هغـه تـر رهبـرۍ لانـدې يـو نظـام رامنځتـه کـول او د دې نظـام پـه چـوکاټ کې پـه خلکـو بانـدې له حکومـت کولـو د سـرتېري يوازينـی نيت بايـد د اعـلاء کلمـة اللـه لوړوالی، د اسـلامي نظام ټينګښـت، د کفـارو او د هغـوی د قوانينـو پـر ضـد مبـارزه، لـه پرديـو يرغلونـو څخـه د اسـلامي خـاورې ساتنه، د دينـي مقدسـاتو تأميـن، د خلکـو د سـر او مـال خونديتـوب، د اسـلامي حکومـت پـر ورانـدې د راپورتـه شـويو فتنـو او خنډونـو مخنيـوی، لـه منکراتـو د خلکـو راګرځـول او پـه ځمکـه کې د شـرعي احکامـو نفـاذ وي.

انسـان د شـرعي قوانينـو پـه نفـاذ کـې د اللـه تعالـی خليفـه دی او د شـرعي قوانينـو نفـاذ هغـه مهـال ممکـن دی، چـې حکومـت اسـلامي وي، نـو سـرتيری کـه د حکومـت پـه هـره شـعبه کـې دنـده ترسـره کـوي نيـت يـې بايـد د حکومـت پرمختـګ او هميشـه پاتـې والـی وي.

رسـول اللـه چـې لـه دنيـا نـه رحلـت وکـړ، جسـد مبـارک يـې لا نـه و دفـن شـوی چـې صحابـه کرامـو د اميـر د ټاکنې او د يـو نظـام د جوړېښـت چـارې پيـل کـړې. دا پـه دې معنـا چې حکومـت يـوه مقدسـه دنـده ده نـو سـر تېـری بايـد دا دنـده د شـخصي ګټـو لپـاره قربانـي نـه کـړي.

د شريعت اتباع

زړه تـه را تېـره سـرتېريه! تـه بايـد تـر بـل هرچـا د رب تعالـی احکامـو تـه پـه پـوره توګـه پابنـده اوسـې!

اللـه فرمايـي: ژبـاړه: هغـه کسـان چـې مـوږ پـه ځمکـه کې واک ور پـه برخـه کـړو؛ نـو دوی لمونځونـه ادا کـوي، زکاتونـه ورکـوي، پـه نيکـي سـره امـر کـوي او لـه بـدو کړنـو خلـک راګرځـوي.

لـه پورتنـي آيـت څخـه څرګنـده شـوه چـې حکومـت او سياسـت پـه خپـل ذات کـې نـه دي مهـم، بلکـې دا دواړه د دينـدارۍ اسـباب دي. داسـې بـه نـه وي چـې دحکومـت او سياسـت لپـاره پـه دينـي احکامو کـې نيمګړتيـا رامنځته شـي، د مثـال پـه توګـه، يـو سـرتېری لمونـځ لـه دې املـه وځنډوي چـې پـه پيـره، نظـم او يـا بلـه کومـه دنـده مصـروف وي. اوس چـې اللـه سـرتيرو تـه واک ورکـړ؛ نـو دوی بايد د ټولو شـرعي احکامـو پابنـد وي، فرايـض څـه چـې د نفلـي عباداتو هـم بايد پـوره اهتمـام وکـړي، لکـه پنځـه وختـه پـه جماعـت لمونـځ، د قـرآن کريـم تـلاوت، د سـهار او ماښـام مسـنون اذکار او د شـپې لخـوا تهجـد کـول. د صـلاح الديـن ايوبـي رح پـوځ بـه د شـپې لخـوا تهجـد کاوه او د ورځـې جهـاد، يـوازې دوه پوځيـان يـې لـه لښـکره ځکـه وايسـتل شـول؛ چـې د شـپې تهجـد يـې نـه کاوه، پـه دې خاطـر چـې ممکـن د دوی لـه املـه اللـه پـر مـوږ خپـل رحمـت بنـد کـړي.

# «الله اکبر» پر دښمن ماتوونکې ناره!

**زاهدالله نايل**

شـورويانو د کمونېـزم د بـري او کمونسـت کولو لپـاره پنځلس ازاد او خپلـواک هېوادونـه اشـغال کـړي وو، ډېـر جوماتونـه، مدرسـې او د الهـي عبـادت مراکـز يـې لـه خـاورو سـره خـاورې کـړي وو او يـا يـې پـه شـرابخونو او نڅـا ځايونـو بـدل کـړل د نړيوالـې کمونيسـتي ټولنـې د جوړېـدو لپـاره ډېـر انسـانان مسـلمانان او کافـران ووژل شـول همـدا شـان لـه ډېـر پخـوا شـورويانو ګرمـو او تـودو اوبـو تـه د رسـېدلو خوبونـه ليـدل، خـو د يرغـل او يرغـل پلمـه د افغانسـتان لپـاره نـه جوړېده، يـوه ورځ يـې هغـه ناولـې بهانـه ولټولـه پـه افغانسـتان کـې يـې د سـرو کمونيسـتانو پـه لاس لومـړۍ کودتـا وکـړه، جمهـوري نظـام يـې نسـکور کـړ د نـور محمد تـره کـي او نـورو کمونيسـتانو پـه واسـطه يـې کمونيسـتي نظـام پـه پښـو ودراوه، لـه تـره کـي وروسـته يـې د هغه وفـادار شـاګرد حفيـظ اللـه اميـن پـه تخـت کېنـاو (دوهمـه کودتـا عملـي شـوه) نومـوړي بـې سـابقې ظلمونـه وکـړل، ولـې مجاهديـن يـې ايـل او تابـع نـه کـړل، بلکـې د هغـو مبـارزه او مجاهـده لا ګړنـدۍ شـوه. بيـا شـوروي دکتورينـو پـه دريمـه کودتـا لاس پـورې کـړ او د کشـميري جنـرال محمـد حسـين د زوی ببـرک کارمـل د واکمنولـو لپـاره يـې لاره جـوړه کـړه. شـورويانو وويـل: افغانسـتان تـه پاکسـتانيان، امريکايـان، چينايـان او عربـان راغلي؛ هغـوی لـه مجاهدينـو دفـاع کـوي بايـد مـوږ هـم د کابـل لـه رژيمـه ننګـه وکـړو، هماغـه وو، چـې دريمـه کودتـا يـې وکـړه۱۲۰۰۰۰ وحشـي پوځيـان يـې د ځمکـې او هـوا لـه لارې(د جـدي پـه شـپږمه) پـه افغانسـتان را مـارش کـړل او بدنـام ببـرک کارمـل يـې د تاشـکند لـه راډيـو را وغـږاوه.

شـورويان هـم افغانسـتان تـه د مجاهدينـو د ځپلـو لپـاره راغلـل، پـه وحشـيانه عملياتـو بوخـت شـول، مخکې مجاهدينـو د خلقيانـو د ظلـم او نـاروا پـر وړانـدې يـوازې دينـي دنده(مقـدس جهاد)پـر مـخ بېولـه خـو اهېوادوالـو تـه لـه دينـي جهـاد سـره د خپلواکـۍ غـزا هـم ور غـاړې شـوه. پخـوا د شـوروي اتحـاد لـه غلامانـو سـره د ديـن د سـاتنې په موخـه جنګېـدل اوس لـه هغـوی سـره نېـغ پـه نېغـه اړم شـول او پـه دې لاره کـې شـپاړس لکـه مسـلمانان شـهيدان او پـه سـلګونو زره ټپيـان شـول ولـې حوصلـې يـې کمـزورې نـه شـوې.

افغانانـو د اسـلام لپـاره سـرونه نذرانـه کـړي او آن د اسـلام لپـاره پـه هنـد کـې جنګېدلـي همـدا شـان د اسـتقلال او خپلواکـۍ ګټلـو لپـاره يـې لـه چنګېـز، ګـوډ تېمـور، ګرګيـن، افشـار او درې ځلـې يـې لـه انګرېـز سـره پـه ميدانونـو کـې وهلـي، د چنګېـز لمسـی يـې وژلـی، ګـوډ تېمـور يـې ګـوډ کـړی او ګرګيـن يـې هـم د خپلـو اعمالـو پـه جـزا ګـور تـه رسـولی.د اتحـاد جماهيـر شـوروي وحشـي پوځيانـو چـې بـرالا تجـاوز وکـړ، د هـر غيـور افغـان نارينـه او ښـځينه وينـه پـه ځوښـت راغلـه او هغـه ورځ راورسـېده چـې د کابـل ښـار هسـتوګنو د ښـار پـه واټونـو کـې د اللـه اکبـر دښـمن ځپونکـې نـارې پورتـه کـړې، ټـول ښـار کانـو، بوټـو، ونـو او غنـو د کمونيـزم پـر ضـد د اللـه اکبـر نـارې وهلـې دغـه نـارې مـخ پـه تېزېـدا شـوې، د دښـمن مـورال يـې کمـزوری کـړ، دښـمن يـې داسـې وارخطـا کـړ چـې کـرۍ شـپه يـې ډزې وکـړې، وړې او غټـې وسـلې يـې وچلولـې، امـا د اللـه اکبـر کفـر ځپونکـې ملکوتـي نـارې هـم تـر سـهاره غلـې نـه شـوې نـږدې[۱۰] تنـه شـهيدان او [۱۰۰] تنـه ټپيـان شـول. سـبا تـه د جمعـې ورځ وه، د کابـل مسـلمان هسـتوګن نارينـه او ښـځينه، ځوانـان او ماشـومان، سـپين ږيـري او سـپين سـرې تـش لاسـونه را ووتـل، ولـې مقابـل اړخ پـه زغـره والـو، ټانکونـو، شـوبلو،توپونو، دهشـکو او هوايـي ځـواک سـمبال و، کابليانـو دوکانونـه وتـړل او عـام پاڅـون يـې وکـړ، د کابـل ښـار تـه لـه ټولـو خـواوو ډلـې، ډلـې هېـوادوال شـنه او سـپين بيرغونـه پـه لاسـو کـې راتلـل او د لا الــه الا اللـه محمـد رسـول اللـه او اللـه اکبـر نـارې يـې وهلـې خـوږې کلمـې د کابـل ښـکلا ډېـره زياتـه ښايسـته کـړې وه لـه کلمـې سـره شـعار ورکوونکـو دا شـعار هـم ورکاوه: شـوروي عسـکر دې زمـوږ لـه خـاورې ووځـي، مـرګ پـر شـورويانو مـرګ د هغـوی پـر ګوډاګيانـو.

د اللـه اکبـر دښـمن ماتوونکـو نـارو ټـول ښـار پـه سـر اخيسـتی و، پـه ښـار کـې پاڅـون کوونکـي سـاعت پـه سـاعت ډېرېـدل خبـره دې تـه ورسـېده چـې ټـول ښـار سـپينو او شـنو بيرغونـو ونيـو، د چنداولـو د پـل بـاغ عمومـي پـه سـيمه کـې پاڅـون کوونکـو دپوليسـو ماموريـت ونيـو، د هغـه ځـای ټولـه وسـله ولجـه شـوه، د ميونـد تاريخـي واټ کـې د دښـمن څـو ټانکونـه د اور خـوراک شـول، قيـام کوونکـو څـو ودانـۍ ونيولـې، د شـورويانو کلتـوري مرکـز هـم ونيـول شـو، پـه هغـه کـې خـورا زيـات کتابونـه پراتـه و چـې د اور پـه لمبـو کـې وسـوځېدل.

شـورويان او د هغـوی بړيڅـي ډېـر سـخت وارخطـا او لالهانـده وو هغـوی د ځمکنيـو او هوايـي بريدونـو حکـم ورکـړ، نـو د دښـمن فايرونو(هـر ډول ځمکنيـو او هوايـي) د کابـل پـه ښـار کـې وړوکـی قيامـت راوسـتی و، خـو دا يـوه تاريخـي ورځ وه، دا هغـه ورځ وه چـې د شـوروي جاسوسـي اداره KGB يـې پـه دې وپوهولـه چـې د ګرګيـن او مکناټـن مقتـل نـه نيـول کېـږي او نـه سـاتل کېـږي، دلتـه د مقدونـي سـکندر ډېـر عسـکر خښ دي او دلتـه مکناټـن هـم سـرخوړلی. د کـب دريمـې پاڅـون کـې[ ۴۶۷] شـهيدان او زښـت ډېـر ټپيـان شـول، ولـې شـورويان او د هغـو ګوډاګيـان خبـر شـول چـې د اللـه اکبـر دښـمن ماتوونکـې نـارې ظالـم دښـمن ځملـوي او هېڅـوک دا ملـت نـه شـي ايل کولی!!

# دوحې غونډه او د اسلامي امارت راتلونکې ویښتابه

**خالقیار احمدزی**

وروسته تر هغه چې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له بهرنیانو سره له څو پړاویزو خبرو وروسته نتیجې ته ونه رسیدل او په تعقیب یې له غونډې یوائې څو کړی مخکې د شرایطو د عدم تعمیل له امله، خپل ګډون بې ګټې وباله؛ د دوحې د لوړې کچې کنفرانس هم خپل وِجاهت له لاسه ورکړ او له دې امله چې د خبرو اترو لپاره مقابل لوری نه وه او ټول په خپلو کې د خپلو ګټو د تحقق لپاره راټول شوي وه، نو ورغلو دیپلوماتانو ته هم دا غیر متوقع سفر حیرانوونکی وه او یوائې د ساتیري لپاره یې څو ورځې د دوحې په لوړپوړیزو ودانیو کې تیرې کړې.

د دوحې په غونډه کې د ا.ا.ا د استازو نه ګډون وښودله چې هغوی له لویدیځ سره د تعامل لپاره بیړه نه لري او په خپلو اصولو او معیارونو کې لا هم لویدیځې نړۍ ته د سر خَم کیدو لپاره چمتو نه دي. د دوحې د کنفرانس جوړښت یوه پلان شوې مرموزه لوبه وه، چې ا. ا. ا په خپل عدم حضور سره ګډوډه کړه.

امریکا او متحدینو یې تر پایه هڅه وکړه چې د سیمې هېوادونه (ګاونډیان، چین، روسیه، ترکیه او...) د ا.ا.ا پر وړاندې ګډ دریځ نیولو ته وهڅوي، خو له پاکستان پرته یې کوم متحد ونه موند. ګاونډي مسلمان (پاکستان) تر پایه د ملګرو ملتونو لخوا د ځانګړي استازي ټاکل(چې د ا.ا.ا لخوا رد شوی وه او نورو هیوادونه یې هم په ټاکلو کې دوه زړي ول، د انتصاب غوښتنه کوله؛ خو بل لور ته د چین، ایران او روسیې هیوادونه بیا د ا.ا د دریځ پلویان وه. چې وروسته له رابلل شویو افغان نما څیرو سره هم د روسیې او ایران استازو له کتنې ډډه وکړه، خو د پاکستان په ګډون نورو یو څه لیفټ ورکړ. د ناستې تر تدویر وروسته د ترکیې اناډولو خبري اژانس د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې، ماریا زاخاروا له خولې ولیکل چې د افغانستان په اړه هر ډول نوښت او د یو نوي سمت رامنځته کول د اسلامي امارت او سیمې هېوادونو له ملاتړ پرته له ماتې سره مخ دي. امریکا چې تر پرونه یې د افغانستان په تړاو ټولې غونډې د ا. ا د استازو له ګډون پرته تر سره کولې، نن په دومره مهمه او د لویې کچې غونډه کې د ا.ا پر نه ګډون ګوته په غاښ شوه او تر دې وروسته ښايي د خپلو موخو د تحقق لپاره پر نورو کسات اخیستونکو ګامونو غور وکړي دا چې دا ګامونه به څه وي او څومره باید ورته ځیر شو، دلته یې جوتوم.

۱_ امریکا لکه څنګه چې ظاهراََ د حکومت له مخالفو څیرو سره همکاري ردوي نو ښايي چې تر دې وروسته به په منځني ختیځ، اوکراین او تایوان کې له خپلو رقیبانو سره د ښکیلتیا له امله، له ا.ا.ا سره تعامل ته د مجبوریت له کبله تن ورکوي، څو یې په سیمه کې د نورو رقیبانو سره د سیالي لپاره، یو ښه دوست موندلای وي؛ په دې توګه به د رسمیت باب د پرانیستې ترڅنګ، افغانستان له نړیوالې انزوا خلاص او ترڅنګ به یې د سیمې د مهم سوداګریز او اقتصادي څلور لاري په حیث بدلیږي.

۲_که امریکا او متحدینو یې دغه آفشن د خپلو ګټو د ساتنې لپاره اغیزمن ونه باله بیا به نو د هر ډول سیاسي او... فشارونو په واردولو سره به په جګړییز ډګر او سیاسي میز کې د ګالل شوي وقاحت بدله اخلي. امریکا کیدای شي پر ا. ا د فشار راوړلو په موخه د ټیشو پیپر په توګه د پوروړي پاکستان له مجبوریت او ناوړه سابقې، څخه د اوسني حکومت د مخالفینو (جبهه مقاومت او.....) په چاغښت، تمویل او تجهیز کې کار واخلي؛ کیدای شي هغوی ته د سیاسي دفترونو په نوم مجلل ځایونه په واک کې ورکړي او د افغانستان پر وړاندې یې په پټه او ښکاره توګه وکاروي.

پورته دواړو متوقع پایلو که نتیجه ورنکړه، او امریکا او متحدینو یې په افغانستان کې د اوږدمهاله ګټو د خوندیتابه څرکونه ونه لیدل او د سیخ او کباب د نه سوځیدو لوبې ته یې دوام ورکړ، په دې ډول چې نه یې ځان د نورو، نه د واکمنو کړ او د اوسني ګونګ وضعیت دوام یې د ځان په ګټه وباله په دې توګه د افغانستان اوسني ویښ مشرتابه ته پکار ده چې د امریکا تر سیوري لاندې د ملل متحد په نامه د نیویارک میشتې ډلې د یوه ښه بدیل په توګه، سیمه کې د ځان په نفع ښه ځای پیدا کاندي. د هند، روسیې، چین، ایران، ترکیې او د شمالي ګاونډیو هیوادونو سره رغنده تعلقات کولای شي، چې بر یهودپاله امریکا سر وڅرخوي او په خپلو محاسباتو کې یې پاته راولي.

# افغان اعلانات

## اطلاعیه تصمیم براعطای قرارداد

بدینوسیله بتأسی ازفقره (۲) ماده (٤٣) قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت آب و انرژی در نظر دارد قرارداد پروژه خریداری وسایل و تجهیزات برقی برای قریه جات ( نوع کلی، کوبښ،تاخان خیل و ساحات صلاح بیک) مربوط به مرکز ولایت پکتیا دارای کود نمبر LCB/1402-MEW/PD/G017 را با شرکت ساختمانی و لوجستیکی کائنات الفاء دارنده جواز نمبر(٧٩٤٩٤) واقع (ترین صحت پلازا ناحیه اول شهر جلال آباد, مرکز ننگرهار- جلال آباد , ننگرهار) را به قیمت مجموعی مبلغ (١٨,٨٦٧,٢٢٧) افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز طور کتبی توام با دلایل آن بریاست تدارکات وزارت آب و انرژی واقع سرک دارالامان ایستگاه سناتوریم، وفق احکام ماده (٥٠) قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

++++++

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده (٤٣) قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود وزارت دفاع ملی درنظر دارد قرارداد پروژه تهیه و تدارک (۱) قلم تکه پلنگی و(٦) قلم مواد خام البسوی مورد ضرورت قول اردوی ٢١٥عزم ازبابت سال مالی١٤٠٢.از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع با شرکت تجارتی انور عباسی لمیتد دارای (جوازنمبر٠١٠١-٧٤٠٦ آدرس چهاراهی گل سرخ- مرکز کابل) به قیمت مجموعی مبلغ(١٢,٥٧٦,٣٨٠) دوازده ملیون و پنجصدو هفتادوشش هزاروسه صدوهشتاد افغانی. ذریعه امریه نمبر(١١٥٠٧)مورخ١٤٤٥/٠٨/٠٧ مقام محترم وزارت دفاع ملی تاید گردیده ،بنآ اعطاء قرارداد میگردد.اشخاص حقیقی وحکمی که هر گونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل ان به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

++++++

## اعلان داوطلبی

عنوان: پروژه تهیه بسته های مواد غذایی برای ولایات و ولسوالی ها.

شماره دعوت به دواطلبی:

CDDO-BG-05-RFQ-1402

موسسه انکشاف به رهبری مردم از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه دواطلبی پروژه تهیه بسته های مواد غذایی برای پنچ ولایت که معلومات مکمل ولسوالی ها و قریه جات در اسناد داوطلبی درج میباشد اشتراک نموده و نقل اسناد مربوط را در بدل ۳۰۰۰ افغانی توسط فلش دسک از ریاست تدارکات موسسه انکشاف به رهبری مردم بدست آورده و آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات بطور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۱۰:۰۰) قبل ازظهر به روز دو شنبه تاریخ (۷ حوت ۱۴۰۲)به ریاست تدارکات موسسه انکشاف به رهبری مردم واقع کارته چهار ناحیه سوم عقب آمریت حوزه سوم امنیتی خانه نمبر ۲۲ ارائه نمایند. آفر های نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه آفر گشایی به روز دو شنبه تاریخ (۷ حوت ۱۴۰۲) ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون کنفرانس موسسه انکشاف به رهبری مردم برگذار میگردد.

نمبر تیلفون: 0790935935

ایمیل آدرس :l.azizi@cddo.org.af

۴۶۰۱

+++++++

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد نکاح خط شرعی دارای نمبر ۲۱۳ صفحه ۸ مورخ ۱۳۹۶/۳/۵ مرتبه محکمه فاریاب به اسم مصطفی قل فرزند خیر محمد و محترمه خالده بنت خال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۵۵۱

+++++++

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه مجوز حمل سلاح نوع کلاشینکوف دارای نمبر ۱۳۴۱ و ( ۶۶۹۲) مربوط محترم مفتی نیاز محمد فرزند صالح محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۵۴۱

++++++

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه طغرا مهر وکالت دفاع شماره ۶۱۱۰ مورخ ۱۸/ ۱۴۰۲/۲ مربوط محترم مولوی عبدالقدوس فرزند مولوی عبدالودود که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۴۵۴۳

+++++

## اطلاعیه تقرری

قرار است محترم کوچی فرزند نور گل دارنده تذکره شماره ( ۴۷۱۱۸ ) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسلویت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۴۵۵۴

+++++

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی به اسم محمد بشیر مومند فرزند محمد ابراهیم و ومحترمه بی بی آصفه بنت حبیب الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۴۵۵۲

+++++

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه اینوایس گمرکی دارای نمبر دارای نمبر ۶۱۵۳۲۱۳۴۳۶۲ مربوط معینیت محترم مبارزه علیه مواد مخدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۵۴۲

++++++

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم حسن فرزند قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۵۳۷

++++++

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد نکاح خط شرعی دارای نمبر ۲۱۳ صفحه ۸ مورخ ۱۳۹۶/۳/۵ مرتبه محکمه فاریاب به اسم مصطفی قل فرزند خیر محمد و محترمه خالده بنت خال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۵۵۱

+++++

## اعلان

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد) پروژه تهیه و تدارک ۱۷ پایه پرنتر جهت چاپ نمودن بل صرفیه برق د افغانستان برشنا شرکت) تحت شماره داوطلبی (د افغانستان برشنا شرکت/١٤٤٥/ داوطلبی مقید/ اجناس -٠٢٠) با شرکت( خدمات لوژستیکی جیول آف ایست(مروارید شرق) جواز نمبر D-35436 با داشتن محل اصلی { الله نظر مارکیت جاده نادر پشتون ناحیه اول مرکز- کابل } به قیمت مجموعی مبلغ ٧,٧٠٢,١١٩ هفت میلیون و هفت صد و دو هزار و نوزده افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت - دهمزنگ - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

+++++

## اطلاعیه عــام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود که، وزارت امور خارجه ا.ا.ا در نظر دارد، تا قرارداد تدارک کمره های امنیتی و تجهیزات آن برای نمایندگی های ولایتی و مسجد شریف داخل وزارت تحت شماره ارتباطی (MOFA/NCB/1402/G-014) را با شرکت تجارتی و لوژستیکی پامیر غنی جواز شماره (٦٣٨٨٦) آدرس گولای سینما، خیرخانه شهر کابل را به ارزش مجموعی مبلغ (١٢٨١٦٦٣) افغانی یک میلیون دوصدو هشتاد یک هزارو ششصدو شصت وسه افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه ا.ا.ا، واقع چهار راهی ملک اصغر جاده غازیان، ناحیه دوم کابل افغانستان ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

++++++

## اطلاعیــه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود: ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد تا به نمایندگی از دافغانستان برشنا شرکت قرارداد پروژه: تهیه و تدارک ٥ قلم تجهیزات برقی مورد ضرورت احیای مجدد مسیر لین انتقالی شیرخان بندر الی سب استیشن کندز؛ دارای شماره داوطلبی /NPD/DABS/1402/G-040 NCB را به شرکت تولید سیم و کیبل همکار دارای جواز نمبر: 03-D-1479 به قیمت مجموعی ٤٩,٧٦٨,٤٠٠ افغانی( چهل و نه میلیون و هفصد و شصت و هشت هزار و چهار صد افغانی)اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ملی ارائه نمایند.

آدرس: آمریت تسهیلات تدارکاتی، معاونیت تخنیکی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور، پشتونستان وات، کابل - افغانستان.

یادداشت: این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

+++++

## اطلاعیــه تصمیم اعطای قرار داد

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده (٤٣) قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود وزارت دفاع ملی درنظر دارد قرارداد پروژه تهیه و تدارک (۱) قلم تکه پلنگی و(٦) قلم مواد خام البسوی مورد ضرورت قول اردوی ٢١٥عزم ازبابت سال مالی١٤٠٢.از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع با شرکت تجارتی انور عباسی لمیتد دارای (جوازنمبر7406-0101 آدرس چهاراهی گل سرخ- مرکز کابل) به قیمت مجموعی مبلغ(١٢,٥٧٦,٣٨٠) دوازده ملیون و پنجصدو هفتادوشش هزاروسه صدوهشتاد افغانی. ذریعه امریه نمبر(١١٥٠٧)مورخ١٤٤٥/٠٨/٠٧ مقام محترم وزارت دفاع ملی تاید گردیده ،بنآ اعطاء قرارداد میگردد.

اشخاص حقیقی وحکمی که هر گونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل ان به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

## نشست کمیسیون سیاسی...

این طرح را پس از ارزیابی‌هـای وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و ریاست عمومی اداره امور برای بحث به کمیسیون سیاسی ارائه کرد.در نشست کمیسیون سیاسی امارت اسلامی، در خصوص بعضی از موضوعات دیگر نیز تصامیم لازم اتخاذ شده است.

## شخصي اغراضو لپاره دې...

ترڅ کې و نمانځله. د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر مولوي خیرخواه همدې ټکي ته په اشارې وویل، چې دلته پخوا د قومونو او ژبو په نوم له خلکو ناوړه ګټه اخیستل کېده او په وینا یې، د یوې ژبې ویونکي به د بلې ژبې ویونکو په سیمه کې په خپله ژبه نشو ګړېدی.
هغه په څرګندو ټکو وویل، چې اوس هم د ژبې او قوم په نوم د افغانستان د خلکو تر منځ د اختلاف راپورته کولو هڅې کېږي او زیاته یې کړه: «د خپلو شخصي اغراضو لپاره دې د افغانستان له خلکو د ژبې او قوم په نوم استفاده نه کېږي، د ژبو بېلوالی په دې معنی نه دی چې خلک یې هم سره بېل دي».
د نوموړي په وینا، د تعصباتو په راپورته کولو کې یو لوری هم نه ګټیالی کېږي؛ بلکې د هر چا په زیان دی او په خبره یې یوازې یوالی دی، چې د ټولو قومونو خیر په کې نغښتی دی.
مولوي خیرالله خیرخواه ډاډ ورکړ، چې د افغانستان د ټولو قومونو او ژبو د ودې او راپورته کېدو لپاره کار کوي او نه پرېږدي، چې کومه ژبه یا قوم دې څنډې ته شي.
هغه دغه راز وویل، چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته په هره برخه کې ډېر کارونه شوي او ګڼ نور کارونه نیمګړي پاتې دي نو «راځئ چې په ګډه د ټولو کارونو لپاره یو نوی پیل وکړو».
د دغه وزارت فرهنګي مرستیال عتیق الله عزیزي د غونډې ګډونوالو ته په ټینګار سره وویل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د ټولو ژبو لپاره د بیان او لوست فرصت شته او کوښښ کېږي، چې هرې ژبې ته اغېزمن کار وشي.
ښاغلي عزیزي د دغې ورځې په تړاو ژمنه وکړه، چې د هېواد ټولو فرهنګي ارزښتونو او ادبي اقدارو د پالنې او ساتنې لپاره به خپلې هڅې جاري ساتي.
هغه زیاته کړه: «په دې رابطه له نړیوالو هم غواړو، چې زمونږ سره دې په دغو مواردو کې مرستندوی اوسي او زمونږ تائید او همراهي دې وکړي».
د فرهنګي چارو مرستیال ښاغلي عزیزي په څرګندو ټکو وویل، چې نړیوال دې فرهنګي ارزښتونه او مسائل د سیاست برخه نه ګرځوي او په خبره یې: «دلته داسې بنسټونه او مؤسسات و چې تل به یې چیغې وهلې چې اسلامي امارت دې فرهنګي مسائل له سیاست سره نه ګډوي؛
اوس مونږ هغوی ته وایو چې راشئ تاسو په دغه مسیر قدم کېږدئ او فرهنګي ارزښتونه له سیاست مه قربانوئ».
عزیزي دا هم وویل، هغه مؤسسات او بنسټونه، چې د یو ملت د تاریخي او ټولنیز فرهنګي ارزښتونو ساتنه او دفاع یې مسئولیت دی، د هغو هېوادونو رحم او کرم ته ګوري چې په هره برخه کې یې له افغانستان سره سیاسي چلند کړی او د دغه هېواد په څپلو کې لاس لري.
نوموړي له دغو بنسټونو او هېوادونو څخه وغوښتل، چې په یاده برخه کې پر خپلو مکلفیتونو غور وکړي او د وخت له ضایع کولو په ډډه شي.
د غونډې په بله څنډه کې د ملي راډیو ټلویزیون رئیس یوسف احمدي د ټولو ژبو له ویونکو وغوښتل، چې د خپلې ژبې د ودې او بډاینې لپاره له اړوندو بنسټونو سره لاس یو کړي.
ښاغلي احمدي وویل، ژبه هغه وخت پرمختګ کوي، چې د اورېدونکو او ویونکو تر څنګ کتاب، اخبار، جریده او لوستونکي ولري.
د ژبپوهنې د نړیوالې مؤسسې ثمر استازي ډېوېډ میکا پیټ د مورنۍ ژبې نړیوالې ورځې په مناسبت رابلل شوې ناستې ته وویل، د دې ورځې له نمانځلو په ډاګه کېږي، چې د افغانستان خلک مورنۍ ژبې ته ارزښت ورکوي.
هغه څرګنده کړه: «له بده مرغه چې په دې دنیا کې ژبه د جګړو او اختلافونو لپاره کارېدلې، په داسې حال کې چې د ژبو ګڼوالی د رب العلیمن ورکړه او د افهام او تفهیم وسیله ده».
ښاغلي پیټ دغه راز وویل، چې د دوی مؤسسه (ثمر)، چې د ژبو د پایښت لپاره کار کوي د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره یې په افغانستان کې د ژبو لپاره د کار په برخه کې د همکارۍ او همغږۍ هوکړه لاسلیک کړې.
د غونډې یوه ګډونوال او لیکوال د مورنۍ ژبې د ارزښت په اړه د خپلې مقالې په یوه څنډه کې وویل، چې مورنۍ ژبه انسان ته دا وړتیا وربخښي چې د ټولنې له نورو انسانانو او طبیعت سره په چلند کې برلاسي اووسو.
د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ ملګرو ملتونو په ۱۹۹۹ زېږدیز کال کې په بنګله دېش کې د یونېسکو په کانفرانس کې په دې نوم کړه او له ۲۰۰۰م زېږدیز کال را په دېخوا هر کال نمانځل کېږي.

## د ښه ژوند په نیت، په بهرنیو...

د هغې څخه یې: سیاسي مهاجرت، موسمي مهاجرت، اقلیمي مهاجرت، لوږه، طبیعي پېښې، جنګ، او امنیت یادولی شو.
له بده مرغه چې افغان مهاجرینو سره لکه د نورې نړۍ مهاجرینو په څېر چلند نه کېږي. دغه توپیري چلند د افغان مهاجرینو سره بیا په بې ساري ډول په پاکستان او ایران کې زیات کېږي.
دا په داسې حال کې ده چې د هېڅ هېواد څخه د مهاجرینو وېستل په زور سره نه تر سره کېږي، البته په هغه صورت کې چې د هغوی امنیتي او خصوصي سکتور ته زیان ونه رسوي.
دا چې افغانستان څخه د نور هېوادونو په پرتله ډېر افغانان مهاجر کېږي، د ښه ژوند په نیت بهرنیو هېوادونو ته زړه ښه کوي، چې ورته ډېر بیا د لارې ستونزې ورته د مرګ په بایه تمام کېږي. کله چې بهرنیو هېوادونو ته لاړ شي، بیا ورته د هغه ځای د نویو سختیو دروازه خلاصه شي، هغه څه سره مخ شي د لارې ترخه یې ورته هېڅ هم نه وي. بس تقدیر ته په تمه وي چې بیا یې د کوم ډول لوبې لوبغالي ته ور وغوځوي چې کوم ډول شاتونه پرې لګېږي.
دلته مو د دوو افغان ورونو داوود سیال او جهانګیر ناصري سره مرکه کړې چې پاکستان او ایران کې د مهاجرت شپې او ورځې سبا کوي:
۱- په بهرنیو هېوادونو کې د مهاجرو وضیعت څه ډول دی؟
ځواب: په بهرنیو هېوادونو کې افغانان له ګڼو ستونزو سره مخامخ وي، دوی لپاره د هېڅ شي اسانتیا نشته ده، د یو پناه اخیستونکي له حقونو بې برخې دي. افغان مهاجر له لومړنیو او نورو مرستو بې برخې دي. کار نه ورته نه ور کول کېږي، هغه کارونه پرې کوي چې د یو انسان د وسې او قدرت د تر سره کولو څخه پورته وي؛ خو دوی بیا بلخوا وږي نس او د کور څخه لریوالي دې ته اړ کړي وي چې هر ډول سخت کارونو ته اوږه ور کړي، هغوی یې هم له همدې مجبوریت څخه ګټه اخلي او د دوه نفرو کار په یو نفر کوي، داسې هم کېږي چې د میاشت په پای کې ورته خپله د سختیو اجوره هم نه ور کوي.
۲-د اړوند هېوادونو لخوا د مهاجرو لپاره د زده کړو زمینه برابرېږي ؟
ځواب: په ګاونډیوو هېوادونو کې افغانانو لپاره هېڅ د زده کړو اسانتیا نشته، دوی کې ډېر په کمه اندازه افغانان دي چې زده کړو ته لاسرسي لري، هغه هم هغه ډله چې له ډېر پخوا راهسې پر ګاونډیوو او سیمې هېوادونو کې اوسېږي. د نوی مهاجرو افغانانو لپاره بیا درس داسې دی، لکه ۱۹۳۰ او ۶۰ لسیزو کې چې په مرکزي اروپا کې د تور پوستو او سپین پوستو لپاره چې په داخل د صنف کې ورته د ناستې اجازه نه وه او د دروازې تر شاه به یې درس ته غوږ نیوه.
۳- افغان مهاجر د افغانستان له اسلامي امارت نه څه غوښتنې لري؟
ځواب: له نېکه مرغه چې د افغانستان څخه د اسلامي امارت په راتګ سره، د امن، ابادۍ او روغتیا خبرونه اورو، نو د هر څه ورته زیات خوشحاله یو. هېواد مو د ډېرې مودې وروسته د ابادۍ په لور ګام د اسلامي امارت په مټ واخیسته. الله ج دې نور توفیق هم ورته ور کړي. د اسلامي امارت څخه غواړو چې ګاونډیو هېوادونو د افغانانو حالات دې په جدي ډول ونیسي او د حقونو لپاره یې غږ پورته کړي، ورته دې په افغانستان کې د کار زمینه برابره کړي چې تر څو خپل هېواد ته در شو او د ګاونډیو او سیمې هېوادونو له ظلم او ستم څخه خلاص شي. انشاء الله!
په دې برخه کې مو د جهانګیر ناصري څخه نظر اخیستی:
۱- په بهرنیو هېوادونو کې د مهاجرو ژوند په څه حالات کې وي؟
ځواب: افغانان چې له کور څخه بهرنیو هېوادونو ته د تګ ښه خوبونه ویني، له ډېرو سختیو وروسته فکر کوي چې هغوی به اوس د کومو ستونزو سره مخ نه شي، ولې داسې نه وي، د افغانانو بد مرغي د مرز څخه پیل کېږي او بیا چې خپل وطن ته ځي، له سختیو سره او ستونزو سره لاس او ګرېوان وي. ورته د بد بختیو نوی باب پرانیستل شي. افغانان په ګاونډیو او سیمې هېوادونو کې له روغتیایي اسانیاوو څخه بې برخې دي، ورته هېڅوک درمل نه ور کوي، داسې مې هم لیدلي دي چې ډېر افغانان مو له ډېر کوچني درد له امله له لاسه ور کړي دي، ځکه چې ورته پر وخت درمل نه رسېدل. بل دا چې د صحي اوبو نه شتون یوه بله ننګونه د افغانانو لپاره په ګاونډیوو هېوادونو کې ده، صحي اوبو ته هېڅ لاسرسی نه لري، که لري یې هم ډېر کم به وي، دا په داسې حال کې ده چې دوی هم د افغانستان په خوږو اوبو مست دي، ولې بیا په کور د ننه یې افغانان له همدې اوبو څخه بې برخې دي. بیا نو اوبو پرې د پیسو په بدل کې پلوري، دا چې کار نه وي، نو بیا به اوبه څنګه په زرهاوو روپۍ واخلي؟
۲- ایا د افغان مهاجرو سره توپیري چلند کېږي؟
ځواب: دا معلومه خبره ده چې څوک د خپلې خاورې څخه ووځي، بیا ورنه وطني خوبونه او خواږه کډه وکړي، هر څه یې د بل په لاس کې وي، هغوی چې هر څه وایي باید مونږ یې تر سره کړو. د نورو هېوادونو څخه راغلیو مهاجرو سره هېڅ افغان نه برابر کوي، په هره برخه کې افغانانو په ګاونډیو هېوادونو کې له ننګونو سره مخ دي.

## زموږ د ملي مبارزاتو...

دویم حقیقت دا وچې زموږ دهېواد ټولومېشت قومونو ملي وحدت یې په خورا ښه ډول تمثیل کړ، ځکه په یادپاڅون کې ټولو قومونو ښه په اخلاص ګډون درلود ،ټولو سره دخپل هېواد دځمکنۍ بشپړتیا، خپلواکي او دیني ،ملي ارزښتونو دساتنې اودفاع هوډ او هریو په دې لارکې دسرومال قربانۍ ته چمتو ولاړ و. دغه ډول پېښې زموږ دهېواد په ملي مبارزوکې له همدې امله دستراهمیت ورهم دي اوپه کارده چې تل ترتله یې یادښت ژوندی وساتل شي او راتلونکي نسلونه یې پرمنډه ترمنزله ځان ورسوي، خو ترڅنګ یې هغه اجیر اوبې ننګه اشخاص هم دپېغور اورټنې وړدي چې دخپلو ناچیزو ځاني ګټو په خاطرېې داقلیتونو دحقوقو او دفاع په نامه دهېواد پاک زړو مسلمانانو کې قومي، سمتي اوژبني اختلاف راوپارول ،فتنې یې راوېښې اوپه نتیجه کې یې یوځل بیا زموږ هېواد د صلیبیانو په لاس اشغال اوترشلو کلو پورې انتهایي لوی فساد او سختې بدمرغۍ سره مخ کړ.موږ دهمدغې تاریخي ورځې یادښت په ترڅ کې خپل ملت ته هماغه ډول ملي وحدت وریادوواوټینګارکوو چې باید زموږ ټول قومونه دتېرو څلورڅلوېښت کلونو ناخوالې، دکورنیو شخړو فجایع او دصلیبي اشغال فسادونه هیڅکله له یاده ونه باسي اوهرفرد د خپلو اولادونوته هم دا ورزده کړي چې هیڅکله بیا ددغسې فاسدوقومي ټیکدارانوپه شیطاني اوغرضي نارو ونه غولیږي او دتل لپاره په کلک هوډ سره دپردیو یرغلګرو اوهغوی داجیرانو پرخلاف یوموټی اومتحد اوسیږي.دحوت دریمې شهیدان دې ښاد اونېکمرغه اوپردي ګوډګیان دې تل خوار اوشرمنده وي.

## غزه کې د روانې جګړې...

– ملګرو ملتونو کې د چین دایمي استازي ژینګ جون ویلي، امریکا په امنیت شورا کې د غزې د اوربند د پرېکړه لیک په ویټو کولو سره اسراییلو ته د ملکي وګړو د قتل عام لایسنس په لاس کې ورکوي.
امریکا ورمه ورځ امنیت شورا کې د الجزایر له لوري وړاندیز شوی د غزې لپاره د اوربند پرېکړه لیک ویټو او له ناکامۍ سره مخ کړ.
– د وروستیو شمېرو له مخې غزه کې د اسراییلو د بریدونو له امله شاوخوا یو میلیون ښځې او پیغلې نجونې له خپلو مېنو بې ځایه او یا هم بې سرپرسته شوې دي.
د دوی تر نیمایي ډېرې په رفح ښارګوټي کې مېشتې دي، چېرته چې اسراییلو مرګوني عملیات پیل کړي او غواړي دغه ښځې او نجونې ووژني.
په داسې حال کې چې اسراییل او نور ملګري هېوادونه یې په نوره نړۍ کې د ښځو او نجونو د حقونو داعیې لري.
ملګرو ملتونو کې د ښځو برخې مسولین دا په فلسطیني ښځو جبر یادوي او د سملاسي اوربند غوښتنه یې کړې ده.

## به مشکلات مهاجرین ولایت...

به وضعیت و مشکلات بیجا شده ها و عودت کننده ها در غزنی صحبت وتبادل نظر شد.الحاج خلیل الرحمن حقانی، متعهد بررسانیدن کمک و ارائه خدمات به افراد مستحق طورمعیاری و شفاف شد.والی غزنی گفت: که آنان تلاش دارند تا با هماهنگی کامل با نهاد های دیگر به مشکل مهاجرین و عودت کنندگان رسیدگی کنند.

## زمینه فراگیری آموزش...

مجاهدین نیز فراهم شده است.والی فراه، در صحبت هایش از دست آوردها و برنامه های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی ستایش کرد و از حمایت و همکاری رهبری آن ولایت با مراکز تعلیمات تخنیکی و مسلکی و عملی شدن طرح آموزش مجاهدین در این ولایت اطمینان داد.

## په نــــړیوالو غونډو کې...

کې د ملګروملتونو د خوړو او کرنې ادارې د بیړنیو مرستو مسوول احمد فیروز آرین سره د خپل کار په دفتر کې وکتل او پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې اترې وکړې.ددې غونډې په ترڅ کې د کندهار دکرنې رییس الحاج مولوی فضل الباري فضلي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې ادارې له چاړواکو مننه وکړه، چې تل یې ددې ولایت د کرنې ریاست، بزګرانو او مالدارانو سره مرستې او همکارۍ کړې دي.ښاغلي فضلي د کندهار دکروندګرو او بڼوالو ستونزې او ننګونې له یادو چاړواکو سره شریکې کړل او دوی ته یې ډاډ څرګند کړ، چې دکندهار دکرنې ریاست په هره برخه کې له دوی سره همکار او د دوی د پروګرامونو په پلي کولو کې همکاري کوي.په همدې حال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دخوړو او کرنې ادارې د سرچینو رییس الیکس د کندهار ولایت لپاره د یادې ادارې پلانونه او طرحې د کندهار دکرنې رییس ته وړاندې کړل. هغه دغه راز په خپلو خبرو کې وویل: «هڅه کوو ترڅو په نړۍوالو غونډو کې د افغانستان لپاره د مرستو لړۍ روانه وساتو. په نړیوالو کنفرانسونو کې مو په ځلونو په مرستندویو بنسټونو غږ کړئ، چې افغانان مه هېروئ او له دوی سره په هره برخه کې مرستې وکړئ.» دغه راز په دې غونډه کې د مالدارۍ په برخه کې هم ستونزې او ننګونې له یادو چاړواکو سره شریک او له دوی څخه وغوښتل شول چې په یاده برخه کې د مالدارانو لپاره د مرستې زمینه برابره کړي، چې د یادو چاړواکو له خوا دهمکارۍ ډاډ ورکړل شو.

## برای سه صد هزارتن در کشور...

توزیع شده است. هم‌چنان، در این ماه برای بیش از ۱۰هزار تن از هموطنان، خدمات پس از توزیع تذکره الکترونیکی ارائه شده است. درخبرنامه گفته شده است: اداره ملی احصائیه و معلومات تلاش دارد که مراکز توزیع تذکره الکترونیکی را به سطح ولسوالی‌ها فعال نموده و برای هموطنان سهولت‌های بیش‌تر را فراهم سازد.

## د بغلان غوري سیمنټ...

د لنډمهالي لپاره پلان دادې، چې د تولیدي لګښت د کمولو لپاره د غوري سیمنټو زړه فابریکه له مرطوب سیستم څخه وچ سیستم ته واړول شي او په اوږدمهالي کې غواړو چې دغلته د دوه فعالو فابریکو ترڅنګ دریمه فابریکه هم فعاله کړو.د غوري سیمنټو فابریکې کارکوونکی محمد یوسف او حکیم شینواری وایي، چې په دې وروستیو کې یې د غوري سیمنټو فابریکو ته ځانګړې پاملرنه شوې، چې ورسره د تولید کچه لوړه شوې، د فابریکو بیارغونې ته لومړیتوب ورکړل شوی او دغه راز د کارکوونکو معاشات هم پر وخت اجرا کېږي.د دې فابریکې فني کارکوونکی وایي، چې که تولید کچه یې نوره هم لوړه شي هم به لسګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي او هم د سیمنټو له اړخه افغانستان د ځان بسیاینې په لور ګامونه واخلي.

## امارت اسلامی خواستار...

جمعآوری و بسته بندی کثافات از شهر کابل، نصب ۱۴ پایه توربین با ظرفیت تولید ۱۳۰ میگاوات برق در این شهر و سیستم سازی در بخش حکومتداری الکترونیک،سرمایه گذاری خواهند کرد و می توان از کثافات جمعآوری شده گاز، برق و کود کیمیاوی تولید کرد. سید امین سید محمد ویچ، رئیس شرکت بین المللی گیدروماش، ابرازعلاقمندی کرد که دربخش تولید آب آشامیدنی و استخراج و تصفیه نفت درافغانستان، سرمایه گذاری کنند.هم‌چنان، مسوولان این دو شرکت آمادگی شان را در زمینه آموزش متخصصین افغان درافغانستان و روسیه بیان داشتند.داکتر ملا عبدالواسع، رئیس عمومی دفتر مقام عالی ریاست الوزرا گفت: ما خواستار تعامل مثبت با تاجران و سرمایه گذاران تمام کشورها هستیم و شرایط لازم و تسهیلات را برای شان فراهم و از آنان حمایت می‌کنیم.

## له مزار څخه تر ازبکستان...

کې ښه اړیکي لرلې دي او د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره دغه اړیکې لاپیاوړې شوې دي.ورته مهال د اوسپنې پټلۍ ملي ادارې اداري او مالي مرستیال مولوي سید محمد نعیم محمدي د اسلامي امارت له رهبرۍ څخه مننه وکړه چې دا ډول پروژو په عملي کولو کې یې د دغه ادارې سره پوره همکاري کړې او هر ډول ملاتړ یې کړی دی.

## د اوبو او انرژۍ وزارت...

شرکتونو مسوول د اوبو او انرژۍ د پروژو په برخه کې د پانګونې د جلبولو او له دغه وزارت سره د نورو تخنیکي همکاریو په ترسره کولو کې لېوالتیا څرګنده کړه.د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین په دغه لیدنه کې، د جرمني هېواد د موسساتو مخکې همکارۍ وستایله او ډاډ یې ورکړ چې د دغه وزارت رهبري د نوموړو شرکتونو د لېوالتیا د هرکلي ترڅنګ د ګډو همکاریو لپاره د زمینې د چمتو کولو په برخه کې به له دوی سره همکار واوسي.

## ارزګان کې په ۲۴ کیلومتره سړک...

په وینا، دغه سړک چې دوه ولسوالۍ سره نښلوي، د یادو وسوالیو د اوسېدونکو په غوښتنه د ټولګټو ریاست په مالي لګښت جوړېږي. حماس زیاته کړه چې د ګېزاب ولسوالي د «سیاه لاښ» سیمه چې تیرو څو لسیزو کې یې اوسېدونکو د تګ‌راتګ پر مهال له ستونزوسره مخ وو، د سړک جوړولو چارې پیل کړي دي.

Shariat Daily

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې

د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶

مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲

د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ

شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

# Shariat

Published by

Islamic Emirate of Afghanistan

M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies

0782080666

Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852

Email: info@shariatdaily.com

ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

Thursday 22 Febuary 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 188

## د اسلامي همکاریو سازمان د هرات زلزله ځپلو سره ۱۵۰ زره ډالره مرسته وکړه

افغانستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان سفیر دوکتور محمد سعید العیاش د اسلامي پیوستون د صندوق په استازیتوب د هرات له زلزله ځپلو سره ۱۵۰ زره امریکایي ډالره مرسته د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص ته وسپارله.د اسلامي همکاریو د سازمان استازي دوکتور محمد سعید العیاش په دې اړه وویل، چې دا مرسته به د راتلونکو نورو اقداماتو پیلامه وي.نومورې هیله څرګنده کړه، چې دا ډول مرستې به په راتلونکې کې هم دوام ومومي.ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص وویل: «مونږ ژمن یو چې دا مرسته به په پوره شفافیت او امانتدارۍ تر مستحقو وګړو رسوو.» نوموړي د اسلامي پیوستون د صندوق د ادارې مننه وکړه، چې په ستونزمنو حالاتو کې د افغان ولس مرسته کوي.




## د سټنډرډ ملي ادارې ۲۳ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد کړل

د سټنډرډ ملي ادارې ایران هېواد ته د ۲۳ ټانکره بې کیفیته تېلو د بېرته مسترد کولو خبر ورکړی دی.یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د نیمروز بندر له لارې یې ۲۳ ټانکره بې کیفیته تیل (ډیزل او پټرول) چې د دې ادارې له سټنډرډونو سره یې مطابقت نه درلود بېرته ایران ته مسترد کړي دي.خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي ادارې په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي.



یادې ادارې له ټولو سوداګرو څخه غوښتنه کړې، چې هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ څخه تر اوسه پورې سلګونه ټانکره بې کیفیته نفتي توکي اړوندو هېوادونو ته مسترد کړي دي.

### داکتر عبدالواسع:

## امارت اسلامی خواستار تعامل مثبت با تاجران خارجی است

داکتر ملا عبدالواسع، رئیس عمومی دفتر مقام عالی ریاست الوزرا می گوید: امارت اسلامی خواستار تعامل مثبت با تاجران و سرمایه گذاران خارجی است.ارگ در خبرنامه‌یی نوشته است: داکتر ملا عبدالواسع این گفته ها را دردیدار با میخایل الکساندرویچ مالچنوف، رییس شرکت بین المللی «خمپیروم سرویس» و سید امین سید محمد ویچ، رئیس شرکت بین‌المللی «گیدروماش» روسیه که به کابل آمده اند، بیان کرده است.در این دیدار، میخایل الکساندر مالچنوف ویچ، رییس شرکت بین‌المللی خمپیروم سرویس ابراز علاقمندی کرد که در بخش‌های ۷مخ

## هلمند کې د نیالګیو کرلو چارې پیل شوې

دهلمندولایت دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست اړونددبولان انارباغ د نیالګیو روزلو قوریه کې د مسلکي کارکوؤنکو لخوا د ناجو د زرګونو نیالګیو د انتقال او کرلو چارې پیل شوې دي .یادنیالګي چې مخکې یې تخمونه په‌پلاستیکي تونلونو کې کرل شوي دي د راشنه کېدو او بدني ودې نه کېدو وروسته جیوه‌یې ځمکې ته انتقال شول، چې هلته به په مسلکي ډول وروزل شي .دغه نیالګي به دښې روزنې څخه وروسته دکرنې ادارې د ځانګړې کرنلارې له مخې د هلمند ولایت مرکز لښکرګاه په ګډ،ن د ګڼو ولسوالیو بزګرو، ځمکوالو، عام المنفعه تاسیساتو او مقدسو ځایونو د سرسبزۍ په موخه راتلونکي کال ته وویشل شي.

## له مزار څخه تر ازبکستان پورې د اوسپنې پټلۍ د بیا رغولو چارې پیل شوې

د مزارشریف ښار څخه تر ازبکستان هېواد پورې د اوسپنې پټلۍ د بیارغونې چارې د افغانستان اسلامي امارت د اوسپنې پټلۍ د مالي او اداري مرستیال مولوي سید نعیم محمدي، د بلخ ولایت مقام مرستیال مولوي نورالهادي ابوادریس، یو شمېر سیمه ییزو مسوولینو او له ازبکستان هېواد څخه راغلي پلاوي په شتون کې پیل شوې.په دغو مراسمو کې د بلخ ولایت مقام مرستیال مولوي نورالهادي ابوادریس ازبکستاني پلاوي او اړوند مسوولینو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې په افغانستان کې د شل کلنې مبارزې موخه د اسلامي نظام حاکمول او له دښمنانانو څخه د افغانستان آزادول وو چې الحمدالله نن د یوه آزاد افغانستان په توګه د نړۍ سره ښه تفاهم و اړیکې لري. ابوادریس زیاته کړه ازبکستان د افغانستان ښه دوست او نږدې ګاوندی هېواد دی چې د تاریخ په اوږدو ۷مخ

## نورستان کې د غر ښویېدنې له امله د شهیدانو شمېر ۱۸ تنو ته لوړ شوی

دلغمان د پېښنو پر وړاندې د مبارزې او چمتوالي ریاست مسوولین وایي چې د نورستان په نورګرام ولسوالۍ کې د غره ښویېدنې له امله د شهیدانو شمېر۱۸ ته لوړ شوی دی.د لغمان ولایت د پېښنو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي رییس قاري خیرمحمد غازي د باخترآژانس خبریال ته وویل:« د خلکو او امنیتي مسوولینو په مرسته تراوسه ۱۸ شهیدان او ۲ ټپیان راویستلي او لا هم ترتیرو لاندې د نورو بند پاتې شویو خلکو د موندلو لپاره هلې ځلې رواني دي».له بلې خوا د نورستان د نورګرام ولسوال او د سیمې خلک د لغمان والي او ورغلو مسوولینو څخه مننه وکړه چې پروخت یې له دوی سره همکاري او ملتیا وکړې.د یادونې وړده، چې د یاد غره ښویېدنې له اُمله په یاده سیمه کې د لغمان د فراجغان درې ۳ تنه اوسېدونکي هم شهیدان او یو بل ټپي شوی دی.

## ارزګان ولایت کې له قومونو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په ارزګان ولایت کې د یاد ولایت له مسؤلینو، قومي مخورو او دیني علماوو سره د همغږۍ تر سرلیک لاندې ستره غونډه ترسره کړه، په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت پلاوي، ځایي مسؤلینو، دیني علماوو او قومي مخورو ګډون کړی و، د غونډې پر مهال قومي مشرانو له ا.ا.ا څخه خوښي څرګنده کړه او د یاد وزارت د مسؤلینو هلې ځلې یې وستایلې، دوی په خپلو خبرو کې یو لړ ځایي ستونزې شریکې کړې چې د مسؤلینو له لوري د حل په موخه ډاډ ورکول شو.

## درماه گذشته برای سه صد هزارتن تذکره برقی توزیع شده است

اداره ملی احصاییه و معلومات دریک ماه گذشته برای سه صد هزار تن تذکره برقی توزیع کرده است

دفتر مطبوعاتی اداره ملی احصاییه و معلومات دیروز با نشر این خبر نگاشته است: این اداره در ماه دلو سالروان از طریق ۷۶ مرکز توزیع تذکره الکترونیکی و آسان خدمت در کشور، برای ۳۰۰ هزار تن از شهروندان کشور تذکره الکترونیکی توزیع نموده. بیش‌ترین تذکره‌های توزیع‌شده الکترونیکی در این ماه، در ولایت کابل بوده که برای ۶۰ هزار تن توزیع گردیده است. پس از کابل، درهرات برای نزدیک به ۳۰ هزارتن، دربلخ برای ۱۸ هزارتن، درننگرهار برای نزدیک به ۱۵ هزار تن و در کندهار برای نزدیک به ۱۴ هزارتن تذکره الکترونیکی ص۷



## یو سوداګر د انسان تښتوونکو له منګولو وژغورل شو

د بلخ امنیتي مسوولین وایي، چې د یاد ولایت امنیتي ځواکونو په دغه ولایت کې یو سوداګر د انسان تښتوونکو له منګولو ژغورلی دی.د بلخ ولایت ویاند حاجي زید باخترآژانس ته وویل چې د یاد ولایت د امنیې قومندانۍ ځواکونو د ښار په ۶ مه امنیتي حوزه کې د فـواد اکبرزاده په نوم یو ملي سوداګر د ۲ ساعتونو له تېرېدو وروسته د انسان تښتوونکو له منګولو ژغورلی او کورنۍ ته یې سپارلی دی.په ورته وخت کې د بلخ امنیه قوماندان الحاج ملا عبدالرزاق راشد وایي، انسان تښتوونکو دغه ملي سوداګر له کور څخه یې تښتولی و چې د لارې په اوږدو کې یې د دوی موټر د امنیتي ځواکونو د ګزمې له موټر سره ټکر وکړ او له وېرې یې دغه سوداګر پرې ایښی او د امنیتي ځواکونو له لوري روغ رمټ کورنۍ ته یې وسپارل شو.د بلخ ولایت امنیتي ځواکونو ټولو اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ، چې شپه او ورځ د خپل ولس خدمت کوي او نه پرېږدي چې یاد ولایت کې د هېواد دښمنان امنیت په برخه کې ستونزې رامنځته کړي.

# رویدادهای خارجی

### د سوریې دولتي رسنۍ:

## دمشق کې د اسراییلو برید ۲ تنه وژلي



د سوریې دولتي رسنۍ وایي چې د دمشق په یوه هستوګنیزه سیمه کې د اسراییل هوایي بریدونو دوه تنه وژلي دي.فرانس پریس خبري اژانس دا پېښه د غزې له جګړې سره همهاله په سیمه کې د لانجو د زیاتوالي تر ټولو وروستۍ بېلګه بللې ده.فرانس پریس په سیمه کې د خپل یوه عکاس په حواله لیکلي چې هوایي برید په دمشق کې پر یوې نهه پوړیزې ودانۍ شوی دی.له ۲۰۱۱ کال راهیسې چې د سوریې کورنۍ جګړه پیل شوې، اسراییل پر خپل دغه شمالي ګاونډي هېواد سلګونه هوایي بریدونه کړي دي.فرانس پریس لیکلي چې دغه بریدونه د حزب الله په ګډون د ایران پلوه وسله والو ډلو او د سوریې د پوځ پر سنګرونو شوي دي.اسراییل د دغه برید په اړه څه نه دي ویلي، خو وړاندې تر دې یې په ډاګه کړې چې په سوریه کې د ایران د نفوذ د مخنیوي هڅه کوي.

## مسکو نام برادر آلکسی ناوالنی را در فهرست افراد تحت تعقیب قرار داد



حکومت روسیه بعد از مرگ آلکسی ناوالنی منتقد سرشناس کرملین نام برادر وی اولیگ ناوالنی را یکبار دیگر در فهرست افراد تحت تعقیب قرار داد.مرگ آلکسی ناوالنی در یک زندان منطقه دور دست قطب شمال روسیه روز جمعه گذشته اعلان شد.

وزارت داخله روسیه دیروز نام اولیگ ناوالنی را که در تبعید اختیاری بسر می برد بنابر دلایل نامشخصی در فهرست افراد تحت تعقیب شامل ساخت.اولیگ قبل از این در جنوری سال ۲۰۲۲ بعد از آن در این فهرست گنجانیده شده بود که مسئولان دارالتادیب خواستار یک سال حبس تعلیقی برای او شدند.محکمه نامبرده را به دلیل نقض مقررات کوید ۱۹ در سال ۲۰۲۱ محکوم کرده بود ولی او و حامیانش گفتند که این اتهام انگیزه سیاسی دارد.

### په اوکراین کې د امریکا سفیره:

## کانګرس به اوکراین سره د مرستو لایحه ژرتر ژره تصویب کړي



په اوکراین کې د امریکا سفیره وایي، ډاډه ده چې د امریکا کانګرس به له اوکراین سره د اضافي مرستې لایحه تایید کړي، خو زیاتوي دا اټکل ناممکن دی چې دا کار به څه وخت وکړي.بریژیت برینک Bridget Brink پرون په کیيف کې خبریالانو ته وویل، دا په ۱۰۰ کې ۱۰۰۰ ډاډه ده چې متحده ایالات به د اوکراین ملاتړ ته دوام ورکړي.هغې زیاته کړه، دا هومره ژوره سیاسي مسئله ده چې زه یې اټکل نه شم کولی، خو دا خبره کولی شم چې موږ ټول دا استدلال منو چې ولې دا مرسته اړینه ده.اوکراین ته د ۶۱ میلیارد ډالره مرستې لانجمنه لایحه له څو میاشتو راهیسې د تصویب لپاره کانګرس ته چې جمهوریپال پکې اکثریت دي استول شوې ده، خو د سیاسي اختلافونو له کبله بنده پاتې ده.ولسمشر جوبایډن خبرداری ورکړی چې د دې لایحې نه تصویبېدل د روسیې د ولسمشر ولادیمیرپوتین په ګټه دي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!